Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس يې پل پۀ مړو ايرو نشته عالمه
آواره شيدا دغۀ دونيې ملنګ ؤ

آواره شيدا

د کاظم خان شيدا پر شړو ندا و کورنۍ نوې څېړنه

ليکوال

حبيب الله رفيع

۱۳۷۰هـ ش / ۱۹۹۱ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم : آواره شیدا

لیکوال : حبیب الله رفیع

خطاط : شهزاده هدوي

خپروونکی: د امان کتاب خپرولو ټولنه

د خپرېدو کال: ۱۹۹۱ع / ۱۳۷۰ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

د زړه تار

++++++++

دا روا ابنـاد استاد کامل مومند

پـهٔ نـوم

چې د دوی عالمانه شکونه

د دې رسالې د را منځ ته کـېدو

سبب شول .

ح ـ رفیع

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

سرلیک مخ

سریزه الف

لومړی څپرکی :

ساوایتونه او اټکلونه ۱

دوهم څپرکی :

شکونه او ټکونه ۷

دریم څپرکی :

سندونه اولاسوندونه ۲۴

څلورم څپرکی :

تر لاسه شوې نتیجه ۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

سَرِيزه

چې سايه کاندې مدام په سر دستر يو
" شيدا " شام د غريبۍ عجب عالم دی

کاظم خان "شيدا" د پښتو لوی شاعر ؤ، د نازکخيالۍ او موشکافۍ له پلوه ئې هغه بې سياله او بې مثاله ؤ او په دې څانګړنه (خصوصيت) کښې د دغه غوندې شاعر لا په پښتو کښې نه دی تېر شوی . خو لکه څرنګه يې چې شعر او فن ځلاند او معروف دي همدومره يې د ژوند څېره تنګه او تيارې ده ؛ په ځوانۍ کښې له وطنه پردېس شوی او د خپل هنر د شکوفانۍ او غوړېدلو

موده يې پهٔ غربت ، ښکسی او بې وطنۍ کښې تېره کړې
ده ؛ دی لهٔ هېواده مهجور او لهٔ خپلوانو نه ليرې وُ ، پهٔ
ګمنامه او ګوښه ګيرۍ کښې يې ژوند کاوهٔ ، نه بل چا د
دهٔ د ژوند پېښې ليکلې او نه ددهٔ لهٔ دې چارسره
مينه وه .

دا پېښه يوازې ددهٔ د ژوند پهٔ باب نهٔ ده پېښه شوې
بلکې د پښتو د زياتو شاعرانو ژوند پېښې تنې او ورکې
دي او دالړبه يوائې لهٔ پښتو ادیبانو سره نهٔ ده شوې
بلکې د نړيوال (جهاني) ادب زيات شاعران او ليکوال دفن
لهٔ نظره مشهور او معروف دی خو د ژوند پېښو لهٔ خوا
نومورکي او ګمنام .

ګله چې پېښې ليکونکي او ادب څېړونکي د شيدا ژوند
ته متوجه شول ددهٔ پر مرينه تر يوې پېړۍ زيات وخت
اوښتی وُ ، د ژوند څېره يې نوره هم تنه شوې وه ، د
پېژندګلوی پهٔ پلونو يې د زمانې بادونو نوې دورې
هم وروړې او ددهٔ يادونه يې ګرځن کړي وو .

بيا هم پېښې ليکونکو پهٔ يوه خولهٔ وليکل چې شيدا د
افضل خان زوی ، د اشرف خان لمسی او د خان خوشحال
خان خټک کړوسی دی . پورته يوه پېړۍ دا عنعنوي پېژندګلوي
را روانه وه ، دقيق څېړونکي او عميق پېښې ليکونکي بې سنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

روایتونه نشي قانع کولی نو ځکه کله چې په ۱۹۷۴ع کال
د پښتو نومانډ محقق اړوابناد دوست محمد خان کامل
مومند د افضل خان ختک مشهور کتاب " تاریخ مرصع"
خپراوۀ هلته یې د کاظم خان هیڅ څخنه نښانه ونۀ موندله،
شکونه ورته پیدا شول او پوښتنې یې په ذهن کښې
وکړ ځیدې، په دې بې سنده روایت یې شک وکړ او دا
یې په پټو سترګو تائید نۀ کړۀ چې کاظم خان د خوشحال خان
ختک کړوسی دی؛ خپلې پوښتنې یې طرح کړې او موضوع یې
بحث ته ورا ندې کړه، بیا نو په موضوع تاودۀ بحثونه وشول
خو موضوع لا یخله پاتې شوه او دا سې سندونه را منځ ته نۀ
شول چې د دې مدعوي روایت تینګ ملاتړ وکړي او دا ثابته
کړي چې کاظم خان شیدا د خوشال خان ختک کړوسی دی.

زۀ هم د پښتو دیوۀ طالب العلم په ډې بحث موضوع ودجلب
کړم او سره لۀ دې چې د شیدا غوندې مهجور او آواره یم،
خاطرې پریښان او ژوندې پاشان دی خو د خپل ذوق د
تسکین او د ځان بوختولو لۀ پاره په دې برخه کښې
د سندونو په راغونډولو بوخت شوم او غواړم چې په دې
لیکنه کښې د خپلې څېړنې او کړوېنې نچوړ وړاندې کړم؛
زۀ به هڅه کوم چې دا موضوع په دا سې سندونو متکي
کړم چې یوازې خیزه شی او دا ثابته کړی چې کاظم خان د خوشال

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان خټک کړوسی دی که نه ؟

لږ لوی خدای نه پرې دې لاره کښې توفیق خوا ږم او د

ځان لږ حاله سره وړ د شیدا دا بیت را خبر کوم :

زړه هسې نه وایم چې فراق ووژلم

حیات خوشته دی ولې بې خونده دی !

پرې مینه

حبیب الله رفیع

پیښور ، کوز تاکال

۱۹۸۷ ـ ۱۰ ـ ۲۱ ع

۱۳۶۶ ـ ۷ ـ ۲۹ هـ ش

۱۴۰۸ ـ ۲ ـ ۲۹ هـ ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی څپرکی

روایتونه او اتکلونه

اوس یې پل پۀ مړو ایرونشته عالمه
آواره شیدا د څۀ دونهې ملنګ ؤ

لومړنی هغه کتابونه چې کاظم خان شیدا د افضل خان خټک زوی، د اشرف خان هجري لمسی او د خوشال خان خټک کړوسی کښې : د ډپټي حیات خان «حیات افغانی»، د شېرمحمد خان ګنډه پور «خورشید جهان» او د انګریزي ختیځپوهانو راوړتي «پښتو ګرامر» او د پلاوډن د «کلید افغاني» انګلیسي ژباړه دي (۱) خو دوی یوۀهم د خپلې دې خبرې لۀ پاړه ترڅان وړاندې سند نۀ دی ښودلی او بې بنسټه ودانې یې کړې ده.

کله چې نیمه پېړۍ (صدۍ) پخوا پۀ افغانستان کښې پۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ادب څېړنې پيل شوې ، افغاني څېړونکو اوپوهانو هم همدا روايات را نقل کړل . اروا بناد علامه عبدالحی حبيبي په « پښتانهٔ شعراء » (۲) ، پوهاند صديق الله رښتين « د پښتو ادب پهٔ تاريخ » (۳) او عبدالرؤف بېنوا « د کاظم شيدا پهٔ ديوان » (۴) کښې د اخبرې راغبرګې کړې .

پهٔ صوبه سرحد کښې هم د پښتو محققينو دهمدې روايت پيروي وکړه ، د روند محقق همېش خليل پهٔ « ديوان کاظم خان شيدا » (۵) ، ډاکټر انوار الحق پهٔ « ديوان کاظم خان شيدا » (۶) او بناغلو رضا همداني او قارغ بخاری پهٔ تاريخ ادبيات سرحد » (۷) او نورو ليکوالوهم پهٔ خپلو مقالو او ليکنو کښې دا روايت و پالهٔ .

اروا بناد استاد کامل مومند چې د « تاريخ مرصع » پهٔ سريزه کښې ددې روايت پهٔ برخه کښې شکونه او پوښتنې راپيدا کړې (۸) بياهم بې اثره پاتې شوې او د افغانستان او صوبه سرحد محققينو همغه زړه لاره و پالله اوبې لهٔ ددې چې کوم شک وښيی شيدا يې د خوشال خان خټک کړوی وبالهٔ . پهٔ ددې برخه کښې د دوو مهمو کتابونو يادونه ضروري ده چې د تاريخ مرصع تر خپرېدو وروسته يو پهٔ کابل او بل پهٔ پېښور کښې خپور شوی دی ؛ « فرهنګ ژبان و ادبيات پښتو » د ځوان محقق بناغلی زلمي هېواد مل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثر چې د پښتنو شاعرانو لخوا مطلبي ژوند لیک دی
په همدې روایت ولاړ دی (۹) او « روهي ادب » د پروفیسر
محمد نواز طائر تألیف چې د پښتو ادب په نوي طرز کښې
تاریخ دی، دا تاریخ هم همدا روایت را اخلي (۱۰) .

پوهاند عبدالشکور رشاد یوا زینی سړی دی چې د
اروا ښاد استاد کامل شکورنه او پو ښتنې یادوي او په
خپله کومه پرېکړه نه کوي (۱۱) .

د روایاتو لنډیز :

د شیدا ژوند څېړونکو په یادو شوو آثارو کښې
د دې د ژوند خاکه داسې جوړه کړې ده :

کاظم خان شیدا د پښتو د مشهور لیکو نکي افضل خان
خټک زوی ، د پښتو د نامتو شاعر اشرف خان هجري لمسی
او د پښتو ادب د نو میالي پلار خوشال خان خټک کړوسی دی
د ۱۱۳۵- ۴۰ هـ ق کلونو تر منځ زیږ پدلی دی .

څه وخت چې د دې پلار وفات شو نو د دې مشر وروړ
اسدالله خان د مشرۍ دستار په سر کړ او د خپل اقتدار
د قیام او استحکام له پاره چې خپلو وروڼو او نو ر خپلوانو
ته کوم ناشوني حالات پیدا کړل کاظم خان شیدا په هغې
خوښ نه ؤ ان چې احتجاجاً د خپلې برخې جایداد نه هم تېر
شو ؛ پر اسدالله خان تر تولو وروڼو نه کاظم خان ذیات

ګران ؤ ، ددهٔ پهٔ بدګمانۍ چې پوه شو نو ددهٔ لهٔ زړهٔ نه
يې د هر راز شکونو د لرې کولو هڅه وکړه او حتیٰ ددهٔ
ته يې نوره ځمکه هم ورو ورو بخښله او د ترهٔ لورې هم
ورته پهٔ نکاح کړه خو څرنګه چې کاظم خان د خوشال
خان د زامنو او لمسيو زبون حال د خپل پلار لهٔ لاسه
لیدلی ؤ نو ځکه د اسدالله خان لهٔ خوا مراعات او بخښش
دهغهٔ شکونه نوره هم زیات کړل ... کاظم خان شیدا
خپل کور کلی پرېښود ، لهٔ خپلوانو خصوصاً خپل ورور
اسدالله خان نه ډېر خپه ؤ .

شیدا لومړی کشمیر ته ولاړ ، هلته يې زده کړې وکړې
او کله يې چې څهٔ زده کړل سرهند شریف ته ولاړ او
پهٔ پای کښې رامپور ته ولاړ چې هلته د نواب فیض الله
خان پښتون ریاست ؤ او نور ډېر پښتانهٔ هم دلته
وو ؛ نواب دی دمیاشتې پهٔ زړه وړې پهٔ
ملازمت کښې واخیست .

ددهٔ ورور اسدالله خان بیا هم ددهٔ دراوستلو
کوښښ وکړ ، دوستان به يې پسې لېږل راليږل خو
دهٔ د هغو نهٔ منل . څهٔ موده پس اتفاقاً شیدالهٔ خپلو
هندي ملګرو سره د سپل لهٔ پاره ترحسن ابدال راغلی
ؤ او چې خپلوان يې پرې خبر شول پسې ور غلل خو چې

هـــر څو منتونه يې ورته وکړل شيدا سـرای ته راغی .
کاظم خان شيدا په سـرهند شـريف کښې د نقشبندي
طريقې د پير غلام معصوم مـريد ؤ . دۀ په ۱۱۸۱ هـ ق کال
د محمدي صاحبزاده په غو بنـتنه خپل ديوان ترتيب او
د خپل وروړ په وساطت يې محمدي صاحبزاده تـه
وړاندې کړ .
د کاظم خان شـيدا د وفات تاريخ د يوې قلمي نسخې
په حاشـيه د يوۀ نامعلوم شاعر لۀ خوا د " دل نظير " لـهۀ
جملې څخه راايستل شوی چې ۱۱۹۴ هـ ق کال دی . وايي
چې دی په رامپور کښې مـړ شـو خو لږه موده پس يې
خپل خپلوان ولاړل او د دۀ نعش يې سـرای ته راوړ (۲).

پايليکونه (حواشي):

(۱) اروا بناد استاد کامل مومند ، د تاريخ مرصع سريزه
۴۰ مخ ، ۱۹۷۴ع ، يونيورسټی بک ايجنسي ، پېښـور .
گلشن روه ، د پوهاند عبدالشکور رشاد سـريزه ، ۷۲ مخ ،
۱۳۵۶ هـ ش = ۱۹۷۷ع کال ، د پښتو د پيا ورتيا او پر مختيا
آمريت ، کابل .

(۲) اروا بناد پوهاند عبدالحی حبيبي ، " پښتانۀ شـعراء "
لومړی ټوک ، ۲۵۹ مخ ، ۱۳۴۰ هـ ش = ۱۹۴۱ع کال ، پښـتو ټولنه
کابل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) پوهاند صدیق الله رښتین ، د پښتو داب تاریخ " ،
۸۰ مخ، ۱۳۲۵ هـ ش = ۱۹۴۶ع ، کال ، پښتو ټولنه، کابل .

(۴) " د کاظم شیدا دیوان " ، د عبدالرؤف بینوا سریزه،
لومړی مخ ، ۱۳۳۰ هـ ش = ۱۹۵۱ع کال ، پښتو ټولنه، کابل .

(۵) " دیوان کاظم خان شیدا "، د همېش خلیل سریزه ،
" ط" مخ ، ۱۹۶۵ع کال ، ادارهٔ اشاعت سرحد ، پېښور .

(۶) " دیوان کاظم خان شیدا ـ معه اردو ترجمه " ۳۷ مخ،
یونیورسټي بک ایجنسي ، پېښور .

(۷) رضا همدانی ـ فارغ بخاري ،"تاریخ ادبیات سرحد"
پېښور .

(۸) د " تاریخ مرصع " سریزه ، له ۴ مخ څخه تر ۴۹ مخ پورې .

(۹) زلمی هېواد مل ،" فرهنګ زبان و ادبیات پښتو"
لومړی ټوک ، ۲۶۱ مخ ، ۱۳۵۶ هـ ش / ۱۹۷۷ع کال ، دښوونې
او روزنې وزارت ، د تالیف او ترجمې ریاست ، کابل .

(۱۰) پروفیسر محمد نواز طائر ، " روهي ادب "، دوهم ټوک
۱۰۳ مخ ، ۱۹۷۸ع کال ،پښتو اکیډمي ، پېښور .

(۱۱) ګلشن روه ، د پوهاند رشاد سریزه .

(۱۲) ډاروایات له یادو شوو کتابونو نه پټه ګډه راستخراج
شوی چې یو د بل بشپړوونکي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم څپرکی

شکونه او تپکونه

بې سوختنه بې مردن دی لکه شمع
د شیدا طور یوځۀ مشکل پسند دی

کله چې ارواښاد استاد کامل مومند د تاریخ مرصع د متن او حاشیو تر بشپړتابۀ وروسته په ۱۹۷۴ع کال کښې په دې کتاب سربیره لیکله نوځرنګه چې د کتاب په متن کښې یې د افضل خان خټک په ژامنو کښې د کاظم نوم نۀ ولیدلی او هم د کاظم خان شیدا په دیوان کښې د پلار په مرینه دوې قطعې راغلې وې چې باید د افضل خان د مرګ نېټې تر ې راوتلې وای، لۀ دې کبله چې د ۀ هېڅ داسې باوړ شهادت ونۀ موند چې کاظم خان شیدا

دې د افضل خان زوی وی نوځکه یې د اقطعې هم د افضل خان د مرینې و نه بللې او خپل شکونه او پوښتنې یې په لاندې ډول یاد کړل :

۱ـ په تاریخ مرصع کښې زمونږ د مؤرخ افضل خان د زامنو په نامو کښې چې یې یاد کړي دي د محمد کاظم، کاظم خان شیدا یا شیدا نامه چېرې نه ده راغلې.

۲ـ د کاظم خان شیدا په کښو تاریخي قطعو کښې یوه ددوو وړو نو فتح الله او الله نور په مرینې ده چې کال یې « آهاد قلوب غم » (۱۱۸۹) ښیلی شوی دی، په مقدمه کښې یې د محمد عابد خان نوم هم په طور د خپل وروړ اخیستلی دی، له دغو درې واړو نامو یوه هم په تاریخ مرصع کښې د افضل خان د زامنو په نامو کښې تر نظره نه راځي .

ترڅو چې د دغو خبرو او مشکلاتو تعلق دی نو کله افضل خان په ۱۰۷۵-۷۶ هـ ق کال کښې زېږېدلی وه نو په شوال ۱۱۳۶ هـ(*) ق کښې چې تر هغې مودې یې په تاریخ مرصع کښې حالات راوړی، دی به د شپېتو یوشپېتو کالو نه خو ناممکنه او نه غېر اغلبه ده چې په ۱۱۳۶ هـ ق کښې او تر هغې پس ته یې نور زامن لونه هم شوی وی،

(*) په اصل کښې سهواً ۱۰۳۶ چاپ شوی دی .

یا داچې په شوال ۱۱۳۶ هـ ق کښې یې ځینې زامن دومره وارهٔ ووچې د هغو د ذکر موقع تر دغه وخته دواقعاتو په بیان کښې رانغله .

۳- شېر محمد خان کنډه پور په تاریخ خورشید جهان کښې وایي : " اشرف خان هم در آن قید خانه خودکشی کرد پس به جای او محمد افضل خان فرزند اشرف خان رئیس شد مگر از نزاع وخدشهٔ بهرام به آرام گذران کرده نمیتوانست درین حالت پرحسرت خوشحال خان وفات کرد و بعد از و بهرام خان نیز مرد و محمد افضل خان شصت ویک سال حکمرانی بالاستقلال نموده انتقال کړ د ؟ " د دکامل صاحب لهٔ نظره دا بیان لهٔ واقعیت سره سم نهٔ دی او دښتیا هم لو مړی خوشال خان په ۱۱۰۰ هـ ق کال ، بیا اشرف خان په ۱۱۰۶ هـ ق کال او بیا بهرام خان په ۱۱۲۴ هـ ق کال مړهٔ شوی دی .)

۴- د تاریخ خورشید جهان مولف لیکي چې د بهرام خان د مړینې نه پس افضل خان په استقلال یو شپېتهٔ کاله حکمرانی وکړه ..... بهرام خان د تاریخ مرصع لهٔ رویه په ۱۱۲۴ هـ ق کال وفات شوی نو حاصل یې داشو چې افضل خان تر ۱۱۸۵ هـ ق کال پورې حکومت وکړ او ومړ .....

نوکهٔ کاظم خان دا افضل خان زوی وهٔ او دی او

کاظم خان شیدا هم یوکښ وی نو یاخو پهٔ یاده شوې قطعه کښې څهٔ نقص یا غلطي ده یاد تاریخ خوږشید جهان پهٔ بیان کښې....

کامل صاحب لیکي : چې خوږ شید جهان بیا دهرې پښې یادوي دافضل خان د زامنو اسدالله خان او محمد علي خان ترمنځ جګړې یادوي او اسدالله خان پهٔ دې پښو کښې وژل کیږي نو افضل خان داوخت مړ وُ کهٔ ژوندی ؟ کهٔ ژوندی وُ نو څهٔ یې کول ؟ او د دغه ټولو واقعاتو پهٔ دوران کښې پهٔ هکله یې د دغوتاریخونو دلیکونکیو خاموشۍ څهٔ وجه ده ؟ ناممکنه خو نهٔ ده چې څهٔ داسې اوږده رنځورتیا ودپښه شوې وي لکه فالج چې پهٔ ژوند یې لهٔ کاره ویستلی وي خو یاد شوی تاریخ نویسان دانهٔ وایي بلکې داچې د بحث دلاندې دا ټول واقعات د افضل د مړ کېدو نه پس شوي وو ، نو کهٔ داصحیح وي او افضل خان پهٔ ۱۱۸۳ هـ ق کال وفات شوی وي نو پهٔ حسن ابدال کښې به پهٔ ۱۱۷۲ یا ۱۱۷۷ هـ ق(*) د هغهٔ د نهسي خوشحال خان د مرهټیو سره د جنګ کولو او پهٔ شهادت د سېدلو سوال هدو نهٔ پیدا ویږي .....

یا د شوی تاریخونه د هرې تاریخي پښې لیکي خو یو هم سند نهٔ ښیي نو ځکه یې کامل صاحب د هر تاریخي تناقضات دا سپرلي او پهٔ همدې بنا یې پهٔ دې باب خپله پرېکړه داسې کړې ده:

(*) د تاریخ مرصع پهٔ چاپ کښې سهواً دا تاریخونه ۱۰۷۲ - ۱۰۷۷ چاپ شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لهٔ پورتنې انتقاده او د شکونو لهٔ اظهاره دا مطلب ښهٔ
دی چې کنه مؤثق یم چې کاظم خان شیدا د تاریخ مرصع دمؤلف
افضل خان زوی نهٔ ؤ او یوې نورې نتیجې ته د توپ وهلو یا د
جدیدې نظریې پېښ کولو شوق لرم بلکې مدعا یې صرف دا
ده چې کهٔ هرڅو د خوشال بابالهٔ کهالهٔ هم او د تاریخ
مرصع د مؤلف افضل خان د زامنو لمسیو معاصرهم وهٔ د
یا د شوو مشکلاتو د نظر دوړاندې دا پهٔ وثوق نهٔ شوویلی
چې د افضل خان بن اشرف خان هجري زوی ؤ او پهٔ
دیوان کښې یې د پلار پهٔ مرګ لیکلې شوې درج تاریخي قطعه
د هغهٔ افضل خان پهٔ مړ ینې ده (۱) .

د پوهاند ربنتین ځوابونه :

د تاریخ مرصع ترخپرېدو څو کاله وروسته پوهاند
صدیق الله ربنتین پهٔ دې اثر یوه انتقادي مقاله وکښله چې د
کابل پوهنتون وېې مجلې نشر کړه ، د دې مقالې لهٔ ټول متن
سره زموږ کار نشته خو د کاظم خان شیدا د بحث پهٔ برخه
کښې د کامل صاحب پهٔ ځواب کښې لیکي :

بنا غلي کامل د سرېزې پهٔ (۳۴-۴۹)(*) مخونو کښې د

(*) پهٔ حقیقت کښې د کاظم خان مربوط بحث د تاریخ مرصع د سرېزې
لهٔ ۳۸ تر ۴۹ مخ پورې را غلی دی .

کاظم شیدا او افضل خان د مرېنې د تاریخ پۀ باب دېر څۀ لیکلي دي خو دخبرو پۀ منځ کښې ورته دا سودا پیدا شوې چې محمد کاظم دافضل خان زوی د ی اوکۀ نه ؟

دی خپل شک او شبهه داسې بنکاره کوي :

۱- پۀ تاریخ مرصع کښې دافضل خان پۀ زامنو کښې د محمد کاظم شیدا ر کاظم شیدا، نوم نۀ دی راغلی .

۲- کاظم شیدا پۀ یوه قطعه کښې د دوو وروڼو فتح الله او الله نور د مرګ نېټه ۱۱۸۹ ښودلې ده .

۳- د خپل دیوان پۀ مقدمه کښې یې د محمد عابد نوم د خپل وروړ پۀ طور راوړی دی چې لۀ دغو دریو وارو څخه دیوۀ نوم هم د افضل خان پۀ زامنو کښې پۀ تاریخ مرصع کښې نۀ دی راغلی .

زما پۀ خیال د ښاغلي کامل دغه ټول سوالونه اوپوښتنې بې ځایه دي .....

پۀ دې باره کښې چې محمد کاظم د افضل خان زوی دی هېڅ سودا نۀ ده پکار، ټول خټیځ پوهان لکه راورتې ، هیوز ، او نور دغه شان د رست افغاني لیکوال دغه خبره مني ؛

پۀ تاریخ مرصع کښې د ۱۱۳۶ هـ ق پورې واقعات راغلي دی او کاظم شیدا لکه چې د سوانحو څخه یې څرګندېږي د تاریخ مرصع د لیکلو پۀ وخت د ۱۱۳۶ هـ ق کښې لا ورځې باقي وۀ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

یالانۍ ویونکی هدلی .

افضل خان دواقعاتو پۀ منځ کښې د خپلو زامنو نومونه یادوي لکه چې وایي : " فرزندي سعید خان فرځدان دلاچي وۀ، (۴۱۳) مغ . ددۀ یوازې د خپلو مشرانو زامنو محمد سعید، محمد علي، محمد حسن، اسدالله، محمد اشرف، سیف الله نومونه یادکړي دي او د محمد کاظم او محمد عابد نومونه یې د وړوکوالي یا د نۀ ضرورت لۀ کبله نۀ دي ذکرکړي هرځۀ د فتح او الله نور د وروړ ولې خبره ده دغه دواړه د کاظم شیدا وړونه نۀ دي بلکې نور څوک دي چې د خپلوی یا اشنایۍ پۀ وجه یا د شوي دي .

د کاظم شیدا د خټک ولې او د افضل خان د زوی ولې د پاڼې ددۀ خپل شعرونه پاخۀ شاهدان دی څوځوځایه یې خپل خاندان، سرای او افضل آباد پۀ دهره مینه یا د کړي دي... نوخوک چې سرای او افضل اباد پۀ دومره مینه یا دوی هغه به ضرور د افضل خان د سترکو تور شید اوي .

البته بنا غلي کامل ته چې د شیدا پۀ دې قطعه کښې سودا پیدا شوې ده :

چې والد(*) یې ارتحال وکړ ځای یې جنت شه دنیا زغدان وه
تاریخ یې دارنګ درحلت ووې خرد و ما ته دامیاشت دشعبان وه

(*) پۀ مقاله کښې ولد چاپ شوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه پورې ادبي تاريخونو ددغې قطعې په باور د افضل خان د مرګ نېټه ۱۱۸۳هـ ق ښودلې ده نو ښاغلي کامل ته هم په دې وجه سودا پرېوتې ده چې که د افضل خان د ژوند کال (۱۰۷۵) وبلل شي نو بيا ددهٔ عمر (۱۰۸) کالو ته رسيږي او دا احتمال به سم نهٔ وي مونږ هم د ښاغلي کامل سره په دغه سودا کښې شريک يوځو لهٔ نوې پلټنې څخه داسې ښکاري چې دغه سنه د افضل خان د مرګ سنه نهٔ ده بلکې ددهٔ د کوړې يا په بله ژبه د شيدا د مورد مرينې سته ده .

ددغې رباعي اوله مسره شعري کسر لري او يو سېلاب کمه ده ، بايد داسې ولوستل شي : (چې والدې مې ارتحال وکړ) په دې صورت کښې شعري کسر لهٔ منځه ځي او لس سېلابه پوره کيږي . ددې توجيه په مرسته ښاغلي کامل هم د سريزې په ۳۹ مخ کښې وايي چې د دوهمې رباعي اوله مصرع په دوو نسخو کښې داسې ده:« غم به تر عمره د والدې کړم» لهٔ دې نه خرګنده شوه چې دغه دواړه څلورينې يې د والدې دی . لهٔ حالاتو نه داسې ښکاري چې کاظم شيدا د پلار د مرګ په وخت په سرای کښې وُ او دغه رباعي يې په راپور کښې ويلې ده .

ښاغلي تقويم الحق کاکاخېل د افضل خان مرګ په (۱۱۵۳هـ) کښې ښودلی دی . ښايي چې دهٔ د افضل خان د نوابۍ دوره چې

(۶۱ کاله) وه د اشرف خان د بند لهٔ وخت نه (۱۰۹۲هـ) حساب
کړې وي نو پهٔ دې صورت کښې دغه پورته سنه یې د
مرګ نېټه ګڼل کېدای شی . مګر د تاریخ مرصع لهٔ حالاتو داسې
ښکاري چې افضل خان تر (۱۱۰۰هـ) پورې لا د نوابۍ پهٔ څوکه
نهٔ وُ ناست او دغه اتهٔ کاله یې ټول لهٔ بهرام سره پهٔ جنګ
جګړو تېر شوي دي . بنایي چې دهٔ د (۱۱۰۰هـ) پهٔ شاوخوا
کښې یا د پلار د مرګ نه پس دغه ځای نیولای وي او (۶۱)
کاله یې ریاست کړی وي . نو پهٔ دې حساب ددهٔ د مړینې
تاریخ د (۱۱۶۱هـ) پهٔ شا اوخوا کښې اتکل کېدای شی (۲) .

د کامل صاحب تکراري دسیځ :

کله چې دپوهاند دبنتین ځوابیه کامل صاحب ته ورسېدهٔ
نو هغهٔ یو ځل بیا د یوهٔ پیاوړي وکیل (ایډوکیټ) پهٔ توګه دخپل
د دیځ د دفاع وکړه او اړ شو چې خپل شکونه تکرار کړي او
ولیکي :

« لهٔ دېرې مودې راهیسې د نوي دور پهٔ پښتنو لیکوالو
کښې مشهورهٔ ده چې د پښتنو نامتو شاعر کاظم خان شیدا
د تاریخ مرصع د مؤلف افضل خان خټک زوی دی . هرکله
چې د کاظم خان خټک پهٔ دیوان کښې یوه قطعه ده چې دیوان -
جوړوونکو یې د شاعر د پلار د مرګ تاریخي قطعه ګڼلې

او تاریخ یې (۱۱۸۳ھ) بنیلی دی نو د تاریخ مرصع پهٔ سریزه کښې (مو) پهٔ مفصلو دلیلونو عرض کړی دی چې د تاریخ مرصع د مؤلف افضل خان ترسنه ۱۱۸۳ھ ژوند نهایي غږ اغلب اولهٔ دې کښه د کاظم خان شیدا کهٔ هرڅو خټک اوهم د خوشال بابا لهٔ خاندانه وهٔ د تاریخ مرصع دمؤلف افضل خان زوی کښل غږ محفوظ دي . علاوه لهٔ دې مې داهم عرض کړی دی چې مون د دې خبرې څهٔ معتبر شهادت نهٔ لرو چې هغه شاعر چې کاظم خان شیدا نومیدهٔ او شیدا یې تخلص وهٔ د خوشال بابا د زوی اشرف خان هجری دزوی چې د تاریخ مرصع مؤلف دی لهٔ زامنوڅخه یو دی .

بناغلی پوهاند رښتین پهٔ دغه لړ کښې انتقاد کوونکی لهٔ ما متفق دی چې د تاریخ مرصع مؤلف افضل خان اغلب چې لهٔ ۱۱۸۳ھ وروسته ژوندی وهٔ ، دغه تاریخي قطعه هم چې د کاظم خان شیدا د پلار پهٔ مرګ ویلې کښلې شوې ده او ۱۱۸۳ هجري یې تاریخي کال بنیلی شوی دی لکه دلوې بلې قطعې چې شاعر د خپلې "والدې" (مور) د وفات پهٔ هکله ویلې ده د شاعر د مور پهٔ وفات ویلې شوې کښې .....

د بناغلي پوهاند رښتین داستدلال نخښه دالیدل شي چې کهٔ هرڅو افضل خان لهٔ کال ۱۱۸۳ھ اکاهوهم وفات شوی وهٔ خو هرکله چې د کاظم خان شیدا پهٔ دیوان کښې داچې

نشته چې پلار يې په ۱۱۸۳ هـ کښې وفات شوی وۀ ، نو د کاظم
خان شيدا د ديوان لۀ داخلي شهادته مونږ د دې خبرې رد
نۀ لرو چې هغه د افضل خان زوی وۀ ....

د بحث لنډولو لۀ پاره به زۀ يو درنګ لره وړم چې
مصرعه هم هغه ډول په کار ده چې څرنګ يې بنا غلی پوهاند
رښتين غوره کړې : "چې والدې مې ارتحال وکړ" نو د دې خبرې
به زياته نه زياته نتيجه داوي چې د تاريخ مرصع مؤلف
افضل خان د ۱۱۸۹ اوهم د ۱۱۸۳ کال هجري نه آګاهومړ
دی (لۀ) مونږ سره به د کاظم خان شيدا د ديوان د داخلي
شهادت په بنا د دې خبرې رد نۀ وي چې کاظم خان شيدا
د افضل خان د تاريخ مرصع د مؤلف زوی دی . خو د
ثبوت بار به په هغه چا وي چې د يوې خبرې دعوی کوي،
کۀ مونږ د کاظم خان شيدا د افضل خان موصوف د زوی
کېدلو دعوې رد نۀ لرو نو په دا دعوی نۀ ثابتيږي .
سوال دا دی چې د دعوې ثبوت څۀ دی ؟

بنا غلی پوهاند رښتين د خپل موقف په تاييد کښې چې
کومې خبرې کوي دادي :

"۱" د شيدا هغه شعرونه چې تر اوسه د دۀ خټک کېدل ، سړی
او د خوشال بابالۀ کهاله سره تعلق او مينه .

"۲" ټول خټيځ پوهان کله راوړتي ، هيوز د غه شان درست

افغاني ليکوال د غه خبره مني .

"۳" افضل خان د واقعاتو په منځ کښې يوازې د خپلو مشرانو نامنو نومونه يادکړي دي او د محمد کاظم او محمد عابد نومونه يې د وړوکوالي يادنۀ ضرورت لۀ امله نۀ دي ذکر کړي ..... فتح الله او الله نور د کاظم وروڼه نه بلکې داشنايۍ په وجه يادشوي دي .

ترخوچې دوړومبۍ خبرې تعلق دی نو ما هم داخبرې منلې چې کاظم خان شيدا خټک او اصلاً د سرای اوسېدونکی ؤ بلکې داهم چې دخوشحال بابا لۀ خاندانه ؤ .... خو دغه ګردې خبرې .... دهغۀ د مشر زوی اشرف خان دزوی زوی کېدل څنګه ثابتوي ؟.... د دوهمې خبرې په باب به عرض وکړم ختيځ پوهانو چې کوم کار کړی دی سره ددې چې بايد ورته په درونډ نظر وکتل شي لۀ انتقاده پورته نۀ دي . وړومبی لۀ دې چې زۀ په دغه لړکښې د ختيځ پوهانو ځينې دېرو سختو غلطو ته ګوته ونيسم ما د پادري هيوز په آثارو کښې چېرې داخبره ونۀ ليدله چې کاظم خان شيدا دافضل خان زوی دی ..... البته پلاوړن دهيوز د کليد افغاني انګريزي ژباړونکي شيدا د افضل خان لۀ زامنو ځنې يادکړی دی او داورتي هم ضرور هغه د افضل خان زوی بللی دی ... ما چې د غه شهادت معتبر نۀ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼلی نو د خپل مؤقف د پاره هې په سرېزه کښې څخو په
تفصیل دلایل ورکړي دي ، دلته به په لنډه دومره ووایم
چې راورتي ، پلاوډن ، شېر محمد ګنډه پور او محمد حیات خان
کهتر هم دیوې زمانې خلک وو ، د شېر محمد خان او محمد
حیات خان کتابونه له تاریخي حیثیته د هرکم پایه کتابونه
دي ..... راورتي په پښتو مینوکښې د مرستې ، پوهې
او خدمت له روپه یو اوچت او جوت مقام لرونکی دی او
د کلید افغاني په انګریزي ترجمه د پلاوډن حواشي هم
د هغه په علمي ذوق لا محققانه مزاج دلالت کوي خو د شېر
محمد خان ګنډه پور او محمد حیات خان کهتر او که د راورتي او
پلاوډن وینا وې دیوې داسې خبرې په هکله چې د هغوي
له زمانې نه د هره آګاهي وي ځان له سند نشي کېدلی ، بیا یوه
هم د خپل بیان د پاڼې نه د ستاویزې نه د زباني سند
یا شهادت چېرې حواله ورکړې ده .... اوس باید چې د
یا دو شو و ختیځ پوهانو د ځینې سختو غلطیو چې څه خو
لطف هم لري نښاندهي وکړم (بیا اروا ښاد کامل د ځینې ختیځ
پوهانو جالبې غلطۍ په کوته کوي) ....

پاتې شوه د ښاغلي پوهاند ربنتین د اخبره چې افضل خان د
واقعاتو په منځ کښې سرېپ د خپلو مشرانو زامنو نومونه اخیستي
دي او د کاظم خان شیدا او عابد خان نامې یې دهغو دکوچنیوالي یا د

ضرورت د نشتوالي لۀ رويه چېرې نۀ دي اخيستلې او دا چې
فتح الله او الله نور د کاظم خان نسبي وروڼه نۀ دي دوستان
يې دي او دې د پاڑې يې ورته وروڼه ويلي دي . د ستايلي
پوهاند مطلب دادی چې کاظم خان شيدا دافضل خان زوی دی
او هم عابد خان .... او سرېپ پۀ دې وجه چې د ديلو نومونه
چېرې پۀ تاريخ مرصع کښې نۀ دي راغلي دانشر ويلی چې دوي
د افضل خان زامن نۀ دي . کۀ دا خبره منلې شوې وي چې کاظم
خان او عابد خان د افضل خان زامن دي اوپوښتنه کوونکی او
پوښتنه کېدونکی يې پۀ باب څۀ اختلاف نۀ لري نو د دې پوښتنې
چې پۀ تاريخ مرصع کښې دا دواړه ولې مؤلف پۀ خپلو زامنوکښې
نۀ دي يادکړي ، پۀ ځواب کښې ويل کېدی شي چې لۀ دې کبله
چې دهر واړۀ به وو او د واقعاتو سره چې کتاب کښې بيان
شوي دي د تعلق نۀ لرلو پۀ سبب يې د يا دولو ضرورت نۀ
ؤ خو هر کله چې بحث کېدونکی يې خپل وروڼه بولي نامې چېرې ليدۀ
اثبات پۀ هکله شهادت ووايي چې يوخو خو شهادت ناقص او
نامعتبر دی او دې سره پۀ تاريخ مرصع کښې چې مؤلف پۀ کښې
د خپلوکښو زامنو نامې يادوي نۀ خو چېرته د کاظم خان شيدا
او نه د هغو کسانو چې دی يې خپل وروڼه بولي نامې چېرې ليدۀ
شي نو دغه ځواب به چې ښاغلي پوهاند رښتين کړی دی موزون
نۀ وي . دلته به داويل بې ځايه نۀ وي چې مونږ ته دافضل

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان د خپل بیان لهٔ رویه د هغهٔ دوه بیبیانې معلومې دي
یوه یې د ماما لور چې بې اولاده وه او دوهمه چې د محمد
علي خان دوي والده وه . ددغې بي بي د حق رسید و ذکر
افضل خان د ۱۱۳۰ هـ ق د وا قعاتو پهٔ ضمن کښې کړي . تردغه
وخته او تر دې ځایه وړ د شپږو کسانو نامې لولو چې افضل
خان پهٔ کښې هر یو د زوی یا فرزند پهٔ طور یاد کړی دی،
هغه نامې دا دي : محمد علي خان ، محمد حسن خان ، اسدالله خان
محمد اشرف خان ، سعید خان ، سیف الله خان . د نورچا نامه
پهٔ دغه طور نه ده اخستلې شوی ؛ کېدی شي چې افضل خان
د هغه وخت نه پس بل واده لا نوره ودونه کړي وي او دا
هم ضروري نهٔ ده چې د غه شپږ زامن هم لهٔ یوې بي بي
شوي وي خو دغې خبرو پهٔ هکله چې ممکن خو دي موږ
لا تر اوسه هیڅ شهادت نهٔ لرو . د بناغلي پوهاند رښتین
داوینا هم دلیل غواړي چې فتح الله او الله نور صرف د دوستۍ
لهٔ مخې کاظم خان شیدا وروڼه یاد کړي دي ، هرکله چې پهٔ
واضحو الفاظو کښې یې ورله وروڼه ویلي دي او پهٔ متعلقه
قطعه کښې دا سې هیڅ توره یا توري نشته چې ورسره یې د
دوستۍ ، اشنایۍ نغوته کوي نوحقیقي معنیٰ پرې اینښې مجازي
معنیٰ کول څهٔ جواز نهٔ لري .

هرکله چې مالهٔ دې خبرې د تاریخ مرصع پهٔ سریزه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکوت انکار نۀ دی کړی چې کاظم خان شیدا د تاریخ مرصع د مؤلف افضل خان زوی دی ځکه چې د ثبوت یې نشتوالی د یوې خبرې د نادرستۍ یا غلطۍ کېدلو ثبوت نۀ دی نو مالۀ خپله اندې بحث پۀ احتیاط راتول کړی دی ....

اوس نو د پښتنو لیکوالو نکیو خصوصاً څېړونکیو خو ښه ده چې (پۀ) دغه باره کښې د راورتي وغیره پۀ وینا قناعت کوي اوکۀ د نورو لټون ضرورت هم محسوسوي ....

کامل صاحب پۀ خپل "۱۶۳۰ع" نومي اثر کښې پۀ دې هم بسنه نۀ کوي، پۀ کاظم خان شیدا پسې نورو لټون هم کوي لۀ "تذکرۀ انتخاب یا دکار" او "تذکرۀ کاملان رامپور" څخه هم (چې دوې معتبرې هندي تذکرې دي) ددۀ پۀ باب معلومات راخلي خو هلته هم دا پۀ لاس نۀ ورځي چې کاظم خان شیدا د افضل خان خټک زوی دی او ددۀ د ژوند پۀ باب لۀ ځینې نورو مشکلاتو سره هم مخامخ کیږي چې دلته یې راوړل او نور دیږي خو پۀ پای کښې وائي :

پۀ اخره یوځل د بنا غلیو لوستونکیو (څخه پۀ) بخښنې غوښتلو سره ددې خبرې تکرار کوم چې ما د دې خبرې نه سکوت انکار نۀ دی کړی چې شیدا د تاریخ مرصع د مؤلف افضل خان زوی وۀ، بلکې د تاریخ مرصع پۀ سریزې کښې مې د هغو مشکلاتو نشاندهي کول مقصد وو چې لۀ ورایه یې موږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېڅه وثوق سره نه شو ویلی چې کاظم خان شیدا دستایلي افضل خان زوی وه نوکه مونږ پدې باب خپل لټون او مرسته جاري وساتو نو هغې زیان به یې نه وي او زه پرې خپه نه یم که نتیجه یې د ښاغلي پوهاند دبنتین د موقف پېڅه تایید کښې راوخېژي لا به خرڅحال یم که دغه کار هم زما پېڅه کوشش وشی (۳).

پایلیکونه (حواشي):

---

(۱) د تفصیل لپاره وګورئ: "تاریخ مرصع" د استاد کامل مومند سریزه، ۳۸-۴۹ مخونه.

(۲) پوهاند صدیق الله دبنتین "تاریخ مرصع" (مقاله) ورمه (مجله) ۲۱ کال، ۲ګڼه، ۵۴-۵۶ مخونه، ۱۳۵۶ هش/۱۹۷۷ع کابل پوهنتون، د ادبیاتو پوهنځی، کابل.

(۳) د تفصیل لپاره وګورئ: د اړوا بناد استاد دوست محمد کامل مومند "۱۶۳۰ع" نومیالی اثر، ۱۴۷-۱۶۶، ۲۰۵-۲۲۹ مخونه، ۱۹۸۵ع، د چاپ زی، پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېم څپرکی

سندونه او لاسوندونه

د افغان لۀ شعراء پۀ شیدا باندې
د ادب پۀ مقتضی د خان شرف دی

د پښتو لوی ، نامتو او ایماندار محقق استاد کامل مومند دې خدای و بخښي ، هغوي مخکښې لۀ دې چې د دې کشالې پۀ حل بریالی شي وفات شو ، نۀ پۀ داسې حال کښې چې د دوی پاک روح ته دعا کاني استوم پۀ دې خبره نه کښې هڅه کوم چې د باورې سندونو او لاسوندونو (دستاویزاتو) پۀ رڼا کښې موضوع و سپړم او پۀ دې باب غواړم قدم پۀ قدم وړاندې ولاړ شم .

لومړی ؛ د شیدا د دیوان لاسوندونه :

۱ـ کاظم خان شیدا ختک دی ، ختکمتوب یې د دیوان لهٔ سریزې څخه چې ددهٔ پهٔ خپل قلم ده اوهم لهٔ متن څخه څرګندیږي.

شیدا د دیوان پهٔ سریزه کښې وایي : " راقم ددې صحیفې محمد کاظم ، شیدا تخلص ، ختک نسب ، حنفي مذهب ، نقشبندي مشرب..."

او د دیوان پهٔ متن کښې داسې وائي :

کهٔ دې جام لکه حباب و نه نیو سیند ته
آفرین دې پهٔ همت شیدا ختکه

+++

خشوع نشان دی د نیکبختیه
کهٔ دې روزي شي شیدا ختکه !

۲ـ شیدا د خان (خوشال خان ختک) د خاندان غړی دی او دا ارتباط پهٔ شاعرانه الفاظو کښې داسې څرګندوي ؛

پهٔ دا هونبره پښتنو کښې بیا پهٔ ژبه د پښتو کښې
پهٔ دا فن کښې خو اشخاص دي چې پهٔ نزد د خرد خاص دي
چې خوشکوی و همه دان دي د هر زمون د خاندان دي

.....

د پښتو شعر معلوم ؤ پهٔ معنیٰ کښې کالمعدوم ؤ
چې قلم پهٔ لاس د خان شهٔ مـ[illegible]ي لوی دیوان شهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصانیف یې فراوان شول مستعد درست افغان شول
سلاست د عبارات هم لطافت د اشارات هم
د هر وقت د معاني هم بلکې خو د همه دانې هم
په کلام کښې یې ظاهره په اقلام کښې یې باهره
سلیقه یې کړه عیانه طریقه یې کړه بیانه
هر شاعر چې د افغان دی ریزه چین د خان دخوان دی
في المثل که بل مهتاب وي مستفید د دې آفتاب وی
چې په غرونو شي لاړ صافه قافله دروي تر قافه
چې وي پل په دریا باندې څوک به غم د شنا کاندې
له حسده که صاف زړه کړې په دا کار کښې انصاف وکړې
خان ممتاز د تمام روه دی بل استاد د دې کروه دی
په میدان د ممتاز انو همعنان د برق تازانو

او ترخان راوروسته څان ته وار سپرې :

ما چې دا کلام اداکړ نوی طرز مې را پیدا کړ
په پښتو کښې کویا خاص یم سزاوار د اختصاص یم
چې په لاس د خان قلم وُ قلمرو یې دا عالم وُ
هغه وخت که دا سواد وی په کاغذ بویه چې صاد وی

او بیا وایي :

شیدا خان به دې کا میر د شاعرانو
که مزار و ته یې عرض د تا انشاء شي

او همدا د نوي طرز د ايجاد لۀ امله خپل کلام ترتولو لوړ کنې خو يوازې خان ځکه ترځان لوړ بولي چې د ادب مقتضي داده يعنې هغه يې دکورنۍ مشر دی:

د افغان لۀ شعراء پۀ شيدا باندې
د ادب پۀ مقتضی د خان شرف دی

۴- شيدا د سرای او سېدونکی ؤ او پۀ خپله وينا کښې د سرای يادونه ډېره ډېره کوی. لومړی سرای هلته يادوي چې د خوشال بابا ستاينه کوي اووايي:

"سرای" مطلع د دې آفتاب دی — پۀ عالم يې هرځای تاب دی
پکښې هسې شان نکات دي — چې نازک لکه ذرات دي
پۀ رنګين خيال رنګين دي — سر تر پايه ګلزمين دي
دا قطعه ده ګل افشانه — رنګينه تر بدخشانه
کۀ انصاف کړې قابل خيزدی — دا بهار عنادل خيز دی
هم يې بنه آب وهوا شته — بلبلان يې خوشنوا شته
هر بلبل يې خوش آهنګ دی — د خيال ګل يې رنګا رنګ دی
کۀ يې بحر يا يې بر دی — کۀ يې سمه يا يې غر دی
کۀ يې باغ يا يې صحرا ده — کۀ يې خار يا يې خارا ده
کۀ يې ګرمسير يا يې آهو دی — کۀ يې بوم يا يې تيهو دی
کۀ يې ونه يا يې پلنګ دی — ګربوه، يا يې ګرګ دی
کۀ يې ميږی يا يې سکار دی — کۀ يې سنيږ يا يې پيکار دی

هر نفس زما پۀ یاد دي دم پۀ دم زما اوراددي

دا کلام د دانشمند دی کۀ يې واوري دلپسند دی

د وطن مینه ای ځانه را پیدا ده لۀ ایمانه

پۀ حرمت د پاک احمد وۀ صلوات باندې سرمدوۀ

هم پۀ آل ، هم پۀ اصحابې پۀ پیرو د پاک جناب يې

نۀ یوځل پۀ ځو کرته بلکې زر زره مرته

څوکردان وي دا سپهر درخشان وي ماه ومهر

څوچمن د بهاران وي انجمن د بنۀ یاران وی

څو باده جام و ساقي وي څو نشه ، خمار باقي وي

څو خیام وي د ښدو وې پۀ قیام وي د باغ سروې

څو فقره د دې سپنج وي څو نکته او ښکته سنج وي

تر هغه دې "سرای" ودان وي هم دې جوړ دا خاندان وي

بنې خبرې بیا مونږ وې پکښې او سه روښافزونې

ګلستان يې خرم او سه بلبلان يې بې غم او سه

پرې ګوذار د خزان مۀ شه!

غندلیب يې نالان مۀ شه!

د هند پۀ پرديسي کښې د سرای یاران پۀ زړه او ب

او د خپلو اشعارو د سرغات ورلیږلو هیله لري:

شیدا واسوده ګنې اشعارلۀ هنده

ستا د رای سره اشنا د سرای یاران دي

بل ځای ځان دسرای نه آواز شوی بلبل بولي :

چې کوزر وکړي صبا د سرای په لوري

آواز بلبل يې ياد په ګلزمين کړه

په سرای کښې د "ولې" او "افضل آباد" يا دونه داسې کوي :

ګله صبادی، بادِ مراد دی

چې يې لیدلی افضل آباد دی

راته يې ووې د حال په ژباړه

تازه دې ګل او سرو شمشاد دی

+++

ګودن ته بویه وړانې جلی

ناري په غږ کښې دځلی

ګلبانګ باه څخه کا د بلبلانو

زما دهوان دی باغ د "ولې"

+++

نسیمه وړشه د سرای سواد ته

له هغه پسه افضل آباد ته

سلامي وکړه په دوارو لاسو

درو دیوال و ګل و شمشاد ته

۴- کاظم خان په ځوانه ځوانۍ کښې د ژمانې د ناخوالو

له لاسه له "سوه" نه وتلی او په لوی هند کښې پردیس

شوی دی ، دی د خپل دیوان پهٔ سریزه کښې پهٔ ځوانۍ لهٔ خپله کوړه وتل داسې بیانوي :

" پهٔ عنفوان الشباب کښې مې استراحت د حضر پهٔ محنت د سفر مبدل شهٔ او الی آن مې پهٔ شام د غربت صبح د وطن مألوفه طالع نهٔ دی . انواع د محن دلشکن چې لازمهٔ د سفر و منافي د راحت وفراغت دی لاحقه د خاطر فاطر :

مدتی شد چون قلم در مشق سرگردانیم
تا چه آرد بر سرم آخر خط پیشانیم

بالجمله پهٔ کلبه د جدایۍ او پهٔ زاویه د تنهایۍ کښې چې مصداق د دې مضمون یم ، فرد .

دل می تپد و نیست کسی دادرس ما
از قافله دور است خروش جرس ما " .

هوا شیدا پهٔ همدې ځوانۍ کښې مسافرکیږي ، هندوستان ته ځي اوکوم ځایونه چې دی یې پهٔ خپل کلام کښې یادوي دادي :

چې باران یې همیشه د ژړا اوري
دا "کټهیر" پهٔ شیدا کوړ تیرا شهٔ

* * *

شیدا واستوه رنګین اشعارلهٔ "هنده"
ستالهٔ راې سره اشنا دسرای یاران دي

شـيدا واسـتوه ديوان لهٔ "هنده" روه ته
چې لبريزي يهٔ صداشي کوهسـتان هم

+++

وړځ د بسنت ده وړيځ ده کـوړ ده
و "بريلي" ته ځولهٔ "رامپوره"
گويا زعفران دي دا زرد گلونه
چې بصره مندیونن لهٔ سـروره

+++

تهٔ بلبل دولايت را غلې لهٔ سـرايه
د تورې غوندې يهٔ "هند" سخن سرايه
ستا اشعار دي گل شکر سخن آرايه
يهٔ گفتار دې شيدا خوښ يم وايه وايه!
زمانې د تا يهٔ طبع آفـرين کړه
يهٔ هند کښې د خپل گشت اوگو زار يهٔ باب وايي :
پکښې نشته سـيه مست د مغو سـتر گو
گرځېدلی يهٔ دسـت هند يهٔ بنگاله يم

+++

سبزان گله وي همسـر د گلـرخانو
بېهوده راغې شـيدا تر هندو باره

+++

گوره يهٔ باغ کښې د رامپور ، وړې
نهٔ دي د ونو تر پانو لـــنې
+++
پښتانهٔ دگټهير مـــتزلـــزل دي
کهٔ هـــرڅو وو لکه غر قوي بنيـاد

هرکز نهٔ کا انتفاع پهٔ هندوستان کښې

پهٔ تموز وي خُنې سرد دروه سراب

۵ ـ شیدا وطن ولې پرېښود؟ پهٔ دې باب پهٔ صراحت څهٔ
نهٔ وایي خو پهٔ شاعرانه ژبه د برې اشارې او نغوتې لرې چې
موږ ته ددهٔ د تلو پهٔ باب مواد راترلاسه کوي ؛ کهٔ څهٔ هم
موږ د شیدا داسې اشعار نهٔ لرو چې دهٔ دې پهٔ روه کښې ویلي
وي ځکه دهٔ د ددهٔ پهٔ وینا پهٔ خُوانۍ وطن پرې اینښی او بنایي دا
داسې وخت وي چې شاعري یې لا نهٔ ده پیل کړې او کهٔ احیا نا
پهٔ روه کښې یې شعرونه و یلي هم وي داسې نخښنه نهٔ لرې
چې سړی حکم پرې وکړي خو پهٔ هند کښې یې چې څهٔ ویلي پهٔ
هغو کښې داسې خبرې نشته چې د ددهٔ د تللو او هجرت پهٔ باب
موږ ته د هر څهٔ راترلاسه کوي .

ترهر څهٔ وړاندې ددهٔ لهٔ یوه بیت نه بنکاري چې دهٔ د
وروڼو د اختلاف او د سیسو لهٔ امله وطن پرېښود او ځان یې
لهٔ مظلوم یوسف (ع) سره تشبیه کړ :

د اشفاق طمع به څهٔ کړې لهٔ اخوانه
نتیجه یې ودکېدهٔ دي لهٔ کنعانه

دی خپلو درد ولی ، خُوږولی او بېلتون ته اړکړی دی نو
ځکه تمه نهٔ ورته لري :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دریاب لهٔ سرد جوشی د حباب زړهٔ چوي
شیدا قطع د اُمید بویه لهٔ خپلو

+++

شیدا څهٔ کړي د دې وخت روشنه دا رکه
د سوزن زخم پهٔ زړهٔ دهر انځور دی

+++

ماچې شاکړه د دنیا و خان و مان ته
څهٔ حاجت لرم و نور سروسامان ته
مبارکه شه پر تا د دنیا خو نبه
آوازه شیدا روان دی بیابان ته

٦- ئه خپلو ولې خپه شو؟ دائحکه چې د ددهٔ کوردتی د خانی او جاګیر داری پهٔ نشه کښې یو د بل د سر د بښمنه وه او پهٔ دې لاره کښې یې جنګونه ، مرګونه او راز - راز بې خوندی سره کولې ؛ لهٔ ددهٔ سره د جاګیر او سرداری مینه نهٔ وه ، ددهٔ فقیري او مسکنۍ خوښه کړې وه خو د دوو نورخپل منځي شخړو او د بښمنیو ستوه ذه کړی وُ او مجبور یدهٔ ئې پهٔ خپله هم پهٔ دې مخالفتو کښې ګډ شي ؛ د ددهٔ د عزت او آبرو د هر محقر ژوند تر دې چې بې عزتی او د دنیاوي جاه و جلال غوښه و بالهٔ او له ناکسو سره د او سېدو پرځای یې بیکسی او پردیسی ته تر جیح ورکړه ؛ دا مطلب پهٔ تشبیه او استعاره

ایما او اشاره ددۀ پۀ دیوان کښې ځای پۀ ځای لولو :

هسې رنګ لۀ دې عالمه تنها خوښ یم
چې مدام لکه وحشي پۀ صحرا خوښ یم

تر هغه چې خشک طینت د ساحل وینم
لکه موج آواره لۀ دریا خوښ یم

چې شاړۀ یې لۀ لقمې وږی مګس شي
کله زۀ دهغۀ خوان پۀ سلا خوښ یم

چې پۀ شان د آفتاب نۀ ده کرم رویه
ستا پۀ سرکۀ پۀ سایه د هما خوښ یم

چې پۀ قید یې د قفس کړم لکه زرکه
تر دا هسې خندانۀ پۀ ژړا خوښ یم

کۀ بیدار لکه تصویر لۀ خوا به نۀ شو
پۀ دا حال لۀ خپله بخته شیدا خوښ یم

+++

کۀ فرد تاج و شکوه د تخت نۀ وي
وقت مساعد او مدد د بخت نۀ وي

واړه روان دي زما پۀ پوهه
غم به تر جاه و تر جلال سخت نۀ وي

+++

زمانې هغه کسان دي عزیز کړي
چې مرجع د شرارت دي هم مآب

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بادشاد تعظیم سایه د بادشاهنۀ کا
استاده کۀ یې عالم وي په جناب

+++

پرې زهیر لکه پۀ خپلو بهنونۀ یم
چې زما پۀ سترګو اینبی چا قدم دی
چېرې نه چې یې داجام پریږدې لۀ لاسه
عجب مست د جاد پۀ میو شادجم دی

+++

خندا رادروي پۀ خان و بېګ پورې
پۀ ملک و مال و پۀ خوان و دېګ پورې

+++

مالیدلی دی نشیب پۀ هرفراز کښې
اعتماد به شیدا څرنګ پۀ فراز کړم

+++

زمانې خسان بادکړۀ ترکسانو
چې وخس ته فروکړی دی سر آب

+++

شیدا ولې دې هرڅۀ ته لته ورکړه دا ځکه:
چې همت مې نۀ کا ویر پۀ هسکولو
لکه موج نۀ کړمه بیم لۀ پرېوتلو

سوال مې خوې لهٔ در افشانه ابره نهٔ دی
صدف وړانه خپله خولهٔ کړه پهٔ غوښتلو
د آفتاب پهٔ کمند نهٔ خپژم آسمان ته
نهٔ ښ دم ښار لکه شبنم پهٔ دوش دګلو
د آزاد و لمن ګله پهٔ خار نښلي
د نسیم غوندې ګوزار کړم پهٔ ځنګلو

+++

شیدا زیست پهٔ تور و خاورو لکه مارکړه
مزعفر مهٔ خوړ د دون پهٔ در لذیذ

+++

کهٔ دې جام لکه حباب و نهٔ نیو سیند ته
آفرین دې پهٔ همت شیدا خپګه!

+++

کهٔ وي خشک د دریاب لب لهٔ تشنګی
شیدا کله به طلب کا جام لهٔ جمه

+++

پهٔ مړا باج د سلیمان لکه مور نشته
پهٔ یوه دانه قانع یم لهٔ خروارو

+++

پهٔ مسکه یې شیدا مهٔ شه لقمه تره
چې جبین یې مدام ترش پهٔ شان د دوغ وي

خپل مردن د تا مهجور وته راحت دی
د سوزنن نخم د لوی پرهار صحت دی

+++

خوا بیده بخت مې قیام پۀ خواب و نۀ لید
لکه کل افتادګي زما قسمت دی
د صدا غوندې آزادیم لۀ حجره
کله بند د تعلق زما عادت دی

ددۀ دې عزت النفس اولوړ همت دۀ ته د آوارګۍ او
لۀ کوړه د تللو لاړه هواره کړه او د حباب لاړه یې و نیوه :

پۀ هر لور لکه حباب خانه بدوش ځُم
کۀ شید ا شو آواره لۀ خان و مانه

+++

د سیلاب پۀ دوش روان لکه حباب شوې
اې زما کوړه تر ما آواره تر یې !

اواره لکه افتاب پۀ بحر و بر یم
د ر ته څۀ وایم چې څۀ سوخته اختر یم

دۀ د جاه او سرداری پۀ لاړه کښې د شخړو او جګړو
کولو پر ځای د غریبی (پردیسی) عالم خوښ کړ او
دا نوی عالم یې پرې بښۀ و بالۀ :

چې سایه کا ندې مدام په سرد سترې یو
شیدا شام د غریبۍ عجب عالم دی

شیدا کۀ هرڅو سترې ستومانه او سرکړ دانه
شو خود پردیتوب په جهان کښې یې لۀ چا نه کیله نۀ
کېده نو ځکه یې ځان ته تسلي ورکوله:

صورت رباط دی تۀ رهروی یې
لۀ ستومانۍ تمام زګېر وی یې
لۀ چانه مۀ کړه د تهار طمعه
په دا عالم کښې شیدا پردی یې!
او د آوارګۍ د آزادګه بې غمي یې تر هرجاګیر لوړه

و بلله:

پکښې نشته بې غمي د آزادی
کۀ جاګیر دې سمه، سوات او باجوړ شي

د سرداری او خانۍ په سر په خپله کورنۍ کښې
د هر یې خونړۍ پېښې لیدلې وې او په دې لاړه کښې یې
د خپلو نژدې خپلوانو وژل کتلي وو نو ویل یې:

چې نۀ شوې تر هسې زیبا منګولو
قربان تر هسې زیبا منګولو
او کله یې چې په دې لاړه کښې د خپل شیرین وروس
خوږلی نو د جاه مینه یې داسې غندلې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لهٔ حب جامه پهٔ زړهٔ کښې سوړ یم
د ملنګۍ وکا ر ته جوړ یـــــم
سر پې خوړلی د شیرین وروردی
لهٔ ژوندګۍ تر حلقه مـوړ یم

۷ـ د شیدا لهٔ شاعرۍ څخه بنکاري چې دهٔ پهٔ روه کښې د مینې تارو نه غزولي وو او خپله د مینې بنکلې د نیا یې آباده کړې وه او پهٔ همدې قمار کښې کور او کلی تړې پاتې شو :

خان و مان خړې د عشق پهٔ قمار بایله
د بازۍ نوبت پهٔ سر و د ستار راغی

دی لهٔ خپل محبوب نه لږې شوخولهٔ یاده یې هیڅکله ونهٔ وو ت او دهند پهٔ بنکلو یې بدل نهٔ کړ :

تا د زړهٔ پهٔ صاف دوربین کښې همیش وینې
کهٔ هرڅوې لهٔ شیدا پهٔ هوا د دوړه
بل قاصد نهٔ لرې خو د نسیم پهٔ خولهٔ یې پوښتنه کوې :
کلونه وکړه د روه ټـلوسې
کهٔ دا پیغام مې نسیمه یوسې
خوشبو پهٔ تا ده د ولې سـیمه
پهٔ دا دعا یم چې تازه اوسې

***

پهٔ زړهٔ مې کړئ د غرونو څوکې
حملې د بازو ، د زرکو کوکې
وایه! څهٔ کا؟ د روه نسیمه :
کیزا منګولې ، زیبا مښوکې
دی چې پهٔ ټول هند کړ ځپلی دروه د ساده خوبانو
ساری یې نهٔ دی موندلی :
غره بې ځایه د هند سبزانې دي
غنج و ادا لري کهٔ دلستانې دي
چې دلبري کا بې تکلفه
دروه پهٔ ملک کښې ساده خوبانې دي
+++
زار شه ترې دومره تاوسان ، زانې
لکه دونو بې شمار پاڼې
دروه پهٔ سیمه دي طرفه دلبرې
نشته پهٔ هند کښې داهسې سکانې
+++
د هند سبزو خوږلي پان وي
د ... یاقوت یې دواړه لبان وي
زرکې یې کړئ دروه پهٔ غرونو
ښایسته روغې پهٔ دغه شان وي

۸ـ شیدا ته د وطن یادونه خوابونه یا دوناه دي
او تول عمر یې د دې یادونو پۀ یاد کښې شپې اوورځې
تېرې کړې دي :

همېشه ژاړم پۀ تېر صحبت پسې
پۀ هغه مهر ، پۀ محبت پسې
لکه شیشاه یم د ساعت کړ د ه ،
زړۀ مې دوه نیم شو پۀ تېر ساعت پسې

+++

تل د روه آب وهوا ، واوره ، سپین یخ هم
باغ و راغ ، دښت وکهسار طرفه شا داب
یادلره پۀ خپل خاطر پۀ یادې پایه
شیدا وسپارۀ پۀ قصر دا اطناب

د شیدا یو بیت ښیي چې دۀ کلکه اراده درلوده چې
خپل وطن ته راستون شي او تولو مشکلاتو او د جفا
تیرو ته سینه سپر کړي :

خپل ناکام به دېوانه شیدا در بیا یي
کۀ دامن پۀ کانو ډک لکه کهسار کړې

خودا هیله یې د تل لۀ پارۀ ذهیله شوې ، د روه
دا مرور خانزاده روده ته بیا نۀ دی را غبرګ شوی
او د فراق تریخ ژوندې تېر کړی دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند هسې نه وايم چې فراق ووژلم
حيات خوشته دی ولې بې خونده دی

لېکن له وړه سره يې ادبي اړيکې تل پاتې شوې او وخت پرې وخت يې خپلې غزلې رالېږلې دي :

داغزل د شيدا زريوسه له هند
چې يارانو د وطن څرنګ جواب کا

۹ـ د ډډې د ديوان له سريزې څخه ښکاري چې د شيدا ادبي اړيکې د ډډې د عابد خان نومي ورور پرې واسطه ټينګې وې او همدا ورور يې دی چې د ډډې ته يې د محمدي صاحبزاده پيغام ورر سولی او دهغه پرې غوښتنه يې خپل ديوان ورته رالېږلی دی :

" ..... او سبب د تأليف داؤ چې له افواه د بعضې متر د دين مسموع شول چې مخدوم زاده د ولايت نژاد ، نتيجهٔ هدايت و ارشاد مياں محمدی سلمه الله تعالیٰ خلف الصدق د شيخ الاجل ولی الاکمل مياں محمد عمر دامت برکاته طبع جيده لري او سليقه د سخن شناسۍ کامله ، پرې دبدبه د سخن آرايۍ قصب السبق له همسرانو وړي ـ او پرې کوکبه دخوش سرايۍ مقدمة الجيش د همکارانو دی ، اکثر د واوين د اسلاف و مضامين د حال رنګين وصاف يې فراهم کړي دي اويې مطالعه يې تفريح د قلب و تشريح د صدر لقد وقت د مخدوم

زاده دي ـ اګرچې زډې پې حسب د صورت پې زيارت
مستعد نه يم اما پې ولايت د قريني معلوم شول چې دچا
له خولې يې زما د خيال و مقال پې سمع شريف ځې
رسېدلي دي :

مصرع: عالم همه افسانې ما دارد وما هيچ

بنا بر استيلاء شوق پې تتبع د ورور محمد عابد خان
د طال الله عمره وماته امر پې تدوين وترسيل د اشعار
وکړ ، زې او وروړې في الحقيقت پې مفهوم د کنفس واحد
محقق يو هغه امر پې مثابه د بالا صاله متخيل شې او امثال
يې پې مرتبه د لزوم منتصور او هم خاطر د برادر عزيز وګراي
او پاس يې پې داسبب الزام وانسب ؤ لهذا پې صدد د کار
کښې شوم مهما امکن مې خوض او جلدي پې ترتيب د اشعار
کښې وکړې ، منقولات او مسودات متفرقه او مرقومات دمشات
منظومه هر چې لاس ته راغله پې قيد د ردلف د د ې جريدې
ثبت شول او پې صفحه د د ې مسيطر کشيده ې چې قابل د ضبط و
ربط وو ، لې هغه اشعارو چې هنوز نوحجت آموز د نو مشقي
وم ؛ او بهره اندوز د تازه ګويي ، شايع و غير شايع هر چې
دي قليل بالمعنى واقل باللفظ والمعنى پې نسخې مذکورې کښې
مې داخل کړه :

مصرع : ګر قبول افتد زهې عزو شرف

..... او ترتیب ددې دیوان پۀ شپږ دسن زر، سل،
یو اتیا (۱۱۸۱) کښې دهجري واقع شۀ۔ تاریخ منظوم چې
مشعر پۀ انتساب د مؤلف دی۔ صورت دتقریر داهسې
بیا موند او هیئت د تعبیر یې ارتسام دا رنګ حاصل کړ:

قطعه: پۀ داباب وه استدعا د عزیزانو
چې مجموع شۀ حلاوت د مقالات
د تدوین تاریخ یې رایۀ داشان وویې
« د شیدا دیوان دی شهد اوخۀ نبات »

(۴+ ۳۱۵+ ۷۱+ ۱۴+ ۳۰۹+ ۷+ ۸+ ۴۵۳ = ۱۱۸۱هـ ق)

۱۰ - د شیدا پۀ زمانه کښې یو بل کاظم نومی شاعر هم
ؤ چې پۀ سرای کښې او سېدۀ ، خټک او د همدې کورنۍ لۀ
حواشي ؤ خخه ؤ ، پۀ دې باب دۀ د دیوان پۀ سریزه کښې
وضاحت کړی دی:

« او شخص همنام زما ساکن دسرای چې اکوړی هم ورته
ویلی شی لۀ حواشي ددې خاندان ؤ۔ شاید چې پۀ تأثیر د
صحبت یې کم و بیش رویه د سخن وری پیښ نهاد د خاطر
کړه اولسان د حال یې پۀ قدر د استعداد پۀ ایجاد د مضامین
مترنم ؤ ، از انجمله څو غزل یې پۀ غایت و نهایت شهرت
کښې دي او پۀ محافل و مجالس کښې زبان زدد غزلخوانو
لۀ مشاهیره دیو غزل یې دا مطلع دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبه مرم عالمه پئه ارمان د تورو زلفو
کله به راورسي درمان د تورو زلفو

لاکن نامبرده چندان معروف ومشهور نهٔ وُ - پـه واسطه داشتراک اسمي هغه اشعار پهٔ نزد د کافه عامه مضاف وماته دي - حال آنکه زمالهٔ اشعار نه ما اسم اصلاً مرج نهٔ دی دا معنی پهٔ تخلص مشرح شوې ده او هم معرفت د متکلم پهٔ سیاق د کلام متفرع دی او شناسایي د قایل پهٔ داب د قول کښې مودع دا نکته وکامل عیار ته د تمیز روشن ده او دقیقه د دې کار و دانش شعار ته مبرهن ، چې دا اضافت و ماته خطادی او نسبت بیجا :

چهرته سوزان اخگر اوکجا فروزان اختر "

۱۱- د شیدا پهٔ دیوان کښې دوې مراثي قطعې راغلې چې د " بینوا " پهٔ چاپ کښې " د پلار مرینه " تر عنوان لاندې خپرې شوې ، د " همیش " پهٔ چاپ کښې لومړۍ قطعې ته " د پلار مرینه " او دوهمې قطعې ته " د مور مرینه " سرلیک ورکړل شوی دی ، ډاکټر انوار الحق هم یوې ته د پلار مرینه او بلې ته د مور مرینه کښلې ده . " بینوا " د لومړۍ قطعې د تاریخ ماده " میاشت د شعبان وه " ثبته کړې خو تاریخي ارزښت یې ۱۱۸۳ هـ ترې لاندې لیکلی دی ، د دوهمې قطعې تاریخي مادې ته یې عدد نهٔ دی کښلی ؛

همېش ماده "مياشت د شعبان ده" کښلې او عدد يې ۱۱۸۳ هـ
تر يې لاندې ليکلی، ددوهمې قطعې تاريخي ماده يې "بهشت
يې ځای شه دعاکوم زهٔ" ليکلی او د ۱۱۸۹ هـ کال عدد يې
ورکړی دی، ډاکټر انوارالحق هم پهٔ همدې ترتيب دوارو
مادې ثبتې کړې دي. خو د بهنوالهٔ ثبت نه ۱۱۸۹ هـ کال
راوړي نه ۱۱۸۳ هـ او د همېش او انوارالحق د ثبت شوي
مادې ارزښت بيا ۱۱۸۷ هـ کېږي نه ۱۱۸۳ هـ. کېدای شي
پهٔ ځيني راوروسته خطي نسخو کښې هم خهٔ نا خهٔ
ګونګتيا وي ويا خو ما د موضوع د سپينا وي لهٔ پاره هغې
نسخې ته چې د شيدا پهٔ ژوند پهٔ ۱۱۹۲ هـ کال يهٔ زځيري
ليکدود (د ختکو پهٔ خط) کښلې شوې او د اسلاميه کالج
پهٔ کتابتون کښې ساتلې کېږي، مراجعه وکړه، هلته د
قطعو پهٔ عنوانونو کښې د پلار او مور نومونه قطعاً نشته
او دوارو ته د "تاريخ"، "تاريخ" سرليکونه ودکړل
شوي، متن يې هم پهٔ دقيق ډول ليکل شوی چې نهٔ
يې دلته کټ مټ رانقلوم خو پهٔ نتيجه ګيرۍ کښې لهٔ مور
سره مرسته وکړي:

تاريخ

چه والد يې ارتحال وکړ — چاي جنت شه دنيا زندان وه
تاريخ دا رنګ د رحلت وه وِ — خرد و ماته مياشت د شعبان وه

تاريخ

غم به تر عمره د والد کړم　　خندا مې پريشوه ژړا کوم زه

سال د رحلت يې له مانه واوره　　بهشت ي ځای شه دعا کوم زه

(د قلمي نسخې ۱۸۱ مخ)

چې موږ يې د شعر د روان لوست پۀ اساس پۀ ننني ليک دود

داسې ليکو او د تاريخ ماده او ارزښت يې استخراجوو:

چې والدې مې ارتحال وکړ　　ځای يې جنت شه دنيا زندان وه

تاريخ (يې) دا رنګ د رحلت ووې　　خرد وماته: «مياشت د شعبان وه»

(۱۱+۴۲۳+۴+۷۵۱=۱۱۸۹ھ)

غم به تر عمره د والدې کړم　　خندا مې پريښوه ژړا کوم زه

سال د رحلت يې لۀ مانه واوره:　　«بهشت ی ځای شه دعا کوم زه»

(۷۰۷+۱۰+۱۳+۵+۴۰+۷۵+۶۶+۱۲=۱۱۸۹ھ)

پۀ دوهمه قطعه کښې کاتب د «والد» کلمې ته زېر ورکړی

«والدِ» يې ليکلې او د شعر سکته ورکه شوې ده، کۀ پۀ لومړی

قطعه کښې هم «والد» «والدې» ونۀ لوستل شي مسړی

سکته کېږي او د لسو سېلابو پر ځای ۹ سېلابه رائۀ او هم

څرنګه چې د دواړو قطعو د تاريخي مادې ارزښت ۱۱۸۹ ھ

کال دی نو ځکه دواړې مرثيې ديوډ چا پۀ مړينه دي او

موږ دا ځکه ددۀ مورکنو چې هم د والدې پۀ کلمه د دواړو

قطعو سکتې ورکېږي او هم کاتب پۀ يوه قطعه کښې د «والدِ»

کلمه پهٔ زهر کښلې ده او بنايي پهٔ لومړۍ قطعه کښې زهر (ز) ترې هېر شوی وي او بيا وروسته داتهلې خبرې ددې زهر لهٔ هېرېدلو نه راولاړې شوې دي . داچې دادواړې قطعې ديوهٔ کس دوفات پهٔ باب دي لهٔ هغو درېو قطعو نه تاييد ښي چې ترهمدې قطعو وړاندې او وروسته کښلې شوې او د « سرفرازخان » پهٔ مرينه کښې دي .

۱۲ - د شيدا پهٔ ديوان کښې د دوو وړونو پهٔ مرينه يوه مرثيه ده چې کامل صاحب دا د ددهٔ وړونه کښلې او ربنتين صاحب ددهٔ دوستان بللې خو د قطعې لهٔ پهٔ خېر لوستنې نه برېښي چې دا مرهٔ کسان نهٔ د شيدا وړونه وو نهٔ دوستان، بلکې دوی دواړه پهٔ خپل منځ کښې سره وړونه وو چې د شيدا د استوکنې پهٔ محله کښې اوسېدل ، دوی دواړه د يوې ميا شتې پهٔ اوښ دو کښې مرهٔ شوي او دې ترېجيدې (د دوو وړونو غبرګ مرګ) تهوله محله غمجنه کړې چې لهٔ دوي نه يو شيدا هم دی او پهٔ دې قطعه کښې يې د تهولو غم انځور کړی دی : " پهٔ هر چاؤ رحلت سخت ددواړو وړونو" نو حُکه يې ددهٔ وړونه حتیٰ دوستان هم نشر بللی او دلته هېڅ داسې نخښه نشته چې داوړونه لهٔ شيدا سره منسوب کړي حُکه د " زماوړونه " يا " وړونه مې " او داسې نور ترو نکي ضمايرنهٔ لري . بشپړه قطعه داده :

چې فتح الله او الله نوم له دنیا ولاړل
په غمونو کښې یې فرق ترمیاشتې کم
په هرچاؤ رحلت سخت د دواړو ورونو
په فراق کښې یې نالان وولوی وکم
تأمل یې په بیان د تاریخ وشه
راته ووې زړه: "آهاد قلوب غم"

(۷+۴+۱۳۸+۱۰۴۰ = ۱۱۸۹ھ)

۱۳- موږ ولوستل چې شیدا په ۱۱۸۱ھ ق کال خپل دیوان بشپړکړ نو آیا د ددۀ هغه وینا چې لۀ ۱۱۸۱ھ ق کال نه د مړینې تر وخته (۱۱۹۴ھ ق کال) پورې یې کړې ددۀ د دیوان په نسخو کښې خوندي شوې کۀ نه؟ د دې پوښتنې د ځواب لۀ پاڅه د شیدا د دیوان د څو زړو نسخو په یادونې سره موضوع سپینول غواړو:

الف، د شیدا د دیوان دېره زړه تر لاسه شوې نسخه هغه نسخه ده چې په حاشیه کښې یې د ۱۱۸۷ھ ق کال د محرم ۱۳ نېټه لیک ده او ورسره په یوۀ یادداشت کښې ویل شوي چې د دیوان د حاشیې غزلې دې راتلونکي کاتبان په متن کښې وکاږي، دا نسخه میجر راورتي په پښتو نخوا کښې مونډلې او اوس په برېتش موزیم کښې ساتله کېږي، میکنزي عقیده لري چې دا هغه نسخه ده چې میا محمد (؟) ته په

۱۱۸۱ هـ ق کال لیکله شوې او تر ۱۱۸۷ هـ کال پورې یې د شاعر پاتې وینا پهٔ حاشیه کښې کښلې شوې ده ، خو دا دعویٰ یو بې سنده اټکل دی او پهٔ اصله نسخه کښې داسې کومه څېنه یا اشاره نشته .

ب) د شیدا ددیوان یوه بله زړه نسخه چې د تذکرهٔ کاملان رامپور مؤلف یې یا دونه کوي او وایي چې د ریاست سوات پهٔ کُتبخانه کښې ده د ۱۱۹۱ هـ کال دخلورمې خور (جمادی الثاني) د ۲۲ نېټې لیک ده چې فیض علي د قاسم بېګ زوی د اخون زاده میا غلام حیدر لهٔ پاره کښلې ده اوپهٔ حاشیه یې د یوهٔ ورک نوم شاعر هغه قطعه ده چې د شیدا د مرګ تاریخ یې د "دل نظیر ، ۱۱۹۰ هـ" پهٔ تاریخي مادده کښې پکښې ثبت کړی دی .

ج) ددهٔ ددیوان بله زړه نسخه د ۱۱۹۲ هـ ق کال د صفر پې د ۱۷ نېټې لیک نسخه ده چې ددهٔ پهٔ ژوند پهٔ شاهجهان آباد کښې همدې یاد شوي کاتب لیکلې :

" تمت تمام شد دیوان شیدا تصنیف خان والا شان مظهر لطف والاحسان حاتم زمان خانزاده کاظم خان دام اقباله بخط بندهٔ احقرالعباد فیض علی ولد قاسم بېګ متوطن شاهجهان آباد بتاریخ هفدهم شهر سفر (کذا) بروز جمعه سن ۱۱۹۲ هجري ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نسخه د پېښور د اسلامیه کالج پۀ کتابتون کښې ساتله کېږي .

د) د شیدا د دیوان یوه بله زړه نسخه هم دهمدې کاتب پۀ قلم ده چې د ۱۱۹۲ هـ ق کال د لومړۍ خور پۀ ۲۷ نېټه یې د "خان صاحب اسلام خان" لۀ پاره پۀ شاه جهان اباد کښې کښلې ده ، دا نسخه د کراچۍ پۀ ملي موزیم کښې ساتله کېږي .

هـ ، دا د دۀ پۀ ژوند خطاطي شوې مهمې نسخې دي ، محترم همېش خلیل صاحب هم د دۀ د دیوان یوه دا سې قلمي نسخه لیدلې چې پۀ حاشیه کښې یې د هماغه نامعلوم شاعر لۀ خوا د کاظم خان شیدا د وفات تاریخ دیوې قطعې پۀ ترڅ کښې راغلی:

د شیدا پۀ آشیانه کښې جهان تاریخ شۀ
د کباب غوندې یې کون و مکان تاریخ شۀ
د ر ست بدن یې گویا زړۀ دی پۀ سینه کښې
"بې نظیر" هم د کاظم د مرګ تاریخ شۀ

(۱۱۹۴ هـ)

بنکاري دا سې چې پۀ قلمي نسخه کښې هم د تاریخ ماده او هم عدد دواړه لیک دي نو ځکه همېش صاحب ۱۱۹۴ هـ ق ترې لاندې کښلی او کۀ نه لۀ "بې نظیر" نه ۱۱۷۲ راوزي نه ۱۱۹۴ ، اروابنا د کامل صاحب دې غلطۍ ته متوجه شوی او لیکلي یې دي چې

هم د تاریخ ماده اوهم د دریمې مسرې مفهوم ښکرکندوي
چې د تاریخ ماده "بې نظیر" نه بلکې "دل نظیر" د چې په
دې توګه هم استخراج شوی تاریخ سمبږي اوهم کاظم خان
په ۱۱۷۲ هـ ق کال ژوندی و اوتر ۱۱۹۴ هـ ق کال وروسته
یې د ژوند نخښې چېرې نه ښکاري نو غالباً چې له همېش
صاحب نه به په جلدی کښې "دل نظیر" "بې نظیر" شوی وي
او د دې ملاتړ د تذکرهٔ کاملان رامپور د مؤلف نقل هم
کوي (وروسته راځي).

د کاظم خان شیدا د دیوان په دې نسخو کښې د ددهٔ د وینا
وروستۍ نمونې په حاشیو کښې کښلې شوې لکه په (الف) نسخه
کښې چې تاسو ولوستل، همدا راز د اسلامیه کالج نسخه
(ج نسخه) چې مالیدلې په حاشیه کښې ځینې شعري ټوټې لرې
لکه د میا عمر صاحب د مرېنې دوې تاریخي قطعې چې د ۱۱۹۰ هـ ق
کال دي، د نسخې په حاشیه کښې راغلي اوهم د ددهٔ د دیوان په
نسخو کښې نورې تاریخي مادې هم شته، یوه پکښې د حافظ
رحمت خان د مرېنې تاریخي ماده هم ده چې د دیوان په چاپونو
کښې یې د عباراتو ارزښت ۱۱۹۴ لیکل شوی لېکن د اسم نهٔ دی
ځکه د حافظ رحمت خان د مرېنې کال ۱۱۸۸ هـ ق دی.

په دې اساس د شیدا دیوان په ۱۱۸۱ هـ ق کال لومړی وار
د ددهٔ په لاس راغونډ شوی او بیا وخت په وخت په نورو

نقلونوکښې ددهٔ پاڼې وینا ورځای شوې چې تر ۱۱۹۰ هـ ق کال پورې يې دوینا نمونې پکښې ثابتې دي او بنايي دېره لږ وينا يې ضايع شوې وي . (۱)

دوهم : د تاريخ مرصع څوسندونه :

---

۱ ـ دافضل آباد باغ پهٔ ولې کښې ؤ او تاريخ مرصع يې ځای پهٔ ځای يادوی چې څو نمونې يې دادي :

د ۱۱۳۴ هـ ق کال پهٔ پېښو کښې د افضل آباد ذکر داسې کوي:

« نامدارچې هرکاه صوبه دار ترسيده پورپوروت لهٔ هغه طرفه يې خاطرجمع شهٔ ،کډه يې د سرور لهٔ مېلې سرای ته واستوله ، دی و باغ ته د افضل آباد راغی ، دوې ، درې شپې يې پهٔ باغ تېرې کړې ..... » (تاريخ مرصع ۴۳۶ مخ) .

افضل خان د خپلې يوې جګړې د پېښو پهٔ ترڅ کښې وائي:

« ..... پهٔ ولې دېره وشوه ؛ کښې ،کاځړې، لوبيا پهٔ افضل آباد کښې دېر وو ..... » (۳۱۴ مخ) .

يو بل ځای د ولې موقعيت چې افضل آباد هلته ؤ داسې څرګندوي:

« مالهٔ سرايه کوچ وکړ ، پهٔ ولې چې څلور کروهه لهٔ سرايه تفاوت لري ، څلور کروهه او درې کروهه لهٔ نوښهر دېره ونيوه ..... » (۳۹۲ مخ) .

۲ ـ يهُ تاريخ مرصع کښې د افضل خان د خانې موضوع :

دی تاته سرداري ما درکړه ، تسلیمات مې په ځای راوړل چې
له خان علیین مکان نه رخصت شوم ، ووتم دستار مې له
سره کوز کړ ، په بغل کښې مې کښېښود ، د نیلاب په غابنې
چې خان جنت مکان پسې ورسېدلم ، دی د غابنې په سر
ناست ؤ ، تماشا یې د ملک کړه چې زه یې ولیدلم تبسم یې
وفرمایه چې خان دې ولید ، دستار مې له بغله وکښه هر
چې خان علیین مکان فرمایلي وو په عرض مې ورسول ،
خوشال شئ ، وې ویل ، چې دا دستار تبرک دی کښې یې
بل دئ ! " (۳۵۰ مخ) .

اساساً د افضل خان سرداري په دې وخت کښې تهداب
کذاري کیږي چې غالباً د ۱۰۹۰ هـ ق کال نه راوروسته پېښو
سره اړه لري خو د پلار په خولۀ دا محض د خپل نیکۀ
یو تبرک بللی او رسمي ارزښت یې نۀ دی ورکړی .

کله چې اشرف خان بندي شو ، خوشال خان مأیوس
شو او د اشرف د اخلاصون په شرط یې سرداري بهرام
ته ورکړه ، د احالات افضل خان په تفصیل لیکلي چې دلته یې
لنډیز را اخلو :

« ..... د امیر خان د کابل صوبه دار) بادشاه ته د خان
جنت مکان شکوه و شکایت د هر وکړینې . بادشاه اختیار ورکړ
چې تۀ صوبه دار یې هر چې پوهیږې هغه کړه ، د خان جنت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبان (اشرف خان) حکم یې د قبد راجه رام سنګھ ته چې
پۀ جمرود وۀ راستوۀ ، هغه زمیندار وۀ ، قبول یې نۀ
کړ چې دا کار دمانۀ دی ، بیا یې سید پهولا چې د
شهامت خان زوی ؤ ، پۀ پښاور کښې هغۀ ته یې وکښل
چې پۀ هر فن و فریب خان جنت نبان قبد کا ، راجه رام
سنګھ خان جنت مکان پۀ دې هر خواهش جمرود ته و بالۀ د دۀ
پۀ زړۀ کښې هیڅ نۀ وو ، د بادشاه پۀ دولت خواهی مغرور
ورغی پۀ سن زر دوه نوي (۱۰۹۲) آخر ثور یا اول جوزا
راجا رام سنګھ یو سرو پای ، یو اَس ، یوه د غاړې دهکدهکی
ورکړ نور یې رخصت کړ ، ورته یې اشارت وکړ چې یۀ
پښاور مۀ ځه بهرون در ومه ! آخر دی از راه دولت
خواهي ورغی د سید پهولا کره پۀ خپله ورغی چې اشنا دې
دی وګورم نور به در ومم . هغۀ لۀ خدای تعالیٰ همدا
غوښتل ورته یې وویل چې تۀ کښینه زۀ کورته لاړشم
چې څۀ طعام راستوم طعام وخوړه هاله در ومه - دی یې
کښناوۀ نور یې خلق ترې چاپېر کړل - پروانه یې دامیرخان
ور بنکاره کړه ، پۀ قبد یې کړ ، الله داد خان خویشکي چې
پۀ لښکر کوټ کښې وۀ ، بهرام پۀ غالی د هر کښې وۀ دواړه پۀ
دا مصلحت شریک وو هغو ته یې وکښل چې دا هسې کار ما
وکړ اوس معطل نۀ اوسه تا سو سرای لږ و در ومئ !...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

«..... خان علیین مکان هم پهٔ هغه آوان پیر شوی وهٔ رکادي بادي به ورته ویل) چې بهرام پیانزوهٔ اوس څخو پوخ شوی دی یعنی شیرین شهٔ، خان دې هم د بهرام پهٔ کار راغب شي . مؤلف دکتاب (افضل خان) پهٔ هغه آوان د شپاړسو اولسوکالو وهٔ - پهٔ داسن وسال چې داهسې هیڅ تجربه دکارونو تر سره نهٔ وه تېره - د غاړې شول ، آخر هغه ورځ زهٔ لهٔ سرایه وبنکار ته وتلی وم نکه د زلمیو دستور دی هواهوس به مې کاوهٔ لهٔ ورایه سرورولید شهٔ - کومان و شهٔ چې څوک لهٔ رفقاؤ پسمانده راپسې راغی اما چې نیژدې راغی وپژاند شهٔ چې هغه جلبدار دی چې لهٔ خابنه سره پښاور ته لاړ وهٔ معلوم شول چې څهٔ آسیب وخان ته ورسېد ، پهٔ مجرد دلیدو پوښه و سرای ته راغلم - پهٔ سرای باندې غوغاوه - هرڅوک پهٔ خپل مال پهٔ خپل ځان کر فتار وو . ملاحظه د خلقو داوه چې اوس به فوځ رایشي چې راغلم یو ملا عثمان خدای تعالی یې غریق د بحر رحمت کړه چې دی نمک حلال قدیمي د دوارو خانانو وهٔ ولاړ وهٔ خپل کور خپل مال یې هر څهٔ تر شاوهٔ راغلی مسلح پهٔ دروازه کښې د محل ولاړ وهٔ چې زهٔ یې ولیدم راته یې وویل چې زر ننوزه د محل عالم وباسه ، دغرهٔ پهٔ لوري روان کړه - زهٔ ننوتم

دلاسه ې د محل د عالمو وکړه نور ې د محل عالم راروان
کړ د غړۍ پۀ لور ـ چې غړۍ ته ې عالم ورساوۀ نور
بیا رته راغلم ـ ملا عثمان پۀ ځای ناست وۀ ـ پس لۀ
هغه ې حال مال وغړۍ ته کړ ـ نور ډۀ ورغلم خان علیین
مکان ته ـ لوی خان پۀ نظام پروۀ ـ عابد خان ې راسره
کړ ، د سرور مېلې ته راغلم ـ خان علیین مکان هم راپسې
راغی جرګې معرکې ګډې شوې ـ بهرام د شیخ جیو زیارت
ته راغی ـ راوې بالۀ ، خان علیین مکان د تمامې قبیلې او د
اولس سره ورغی ـ زۀ یکتنها پۀ سرور مېله پاتو شوم
معرکه ې وکړه ـ بهرام مزدوم هومره تزویر وکړ چې خان
ې فریفته کړ ، پۀ جرګه دا مقرر شول چې خان جنت مکان
چې قید دی مغل دې ې خلاص کا ـ د بادشاه پۀ حضور دې
اوسې منصب دې ورکا ـ دا زمان بهرام لکه څل د وړاندې
کړی دی هم دی دې اوسې ـ خانې ې پۀ نامه د بهرام
کړه ـ پس لۀ هغه لوی خان بیا د سرود مېلې ته راغی ـ
زۀ چې پۀ دا حال خبر شوم کډه ې پۀ نظام پروه روان
شوم ـ خان علیین مکان هم راپسې راغی ، محال ترې
بولاق ې هم پۀ بهرام وسپارل ـ د بهرام زوی ې ولاړ
ته واستوۀ ـ څومدت ې خان څخه پۀ نظام پورکنې تېر
کړ ـ پۀ امید د ملګیرۍ چې راسره به مل شي ـ خپل

انتقام به واخلم ـ دا قصیده لوی خان بهرام ته په طریق
د وصیت کښلې وه، دی پرې غافل شـه ؛

د مازې لۀ چانه روغ نۀ دی بهرامـه
لۀ هرچاسره يې زیست دی لۀ ناکامـه
نوکري، ځواني دا دواړه لکـه بـام دي
په پیرۍ کښې لۀ ما ولاړل دواړه بامه
اوس دا دواړه بامه ستادي نندارې کړه
غافل مۀ شـه یوځمان تر صبح و شامـه
په دا اوښ باندې چې ستا کجاوه اینبـې
رسوه يې چې پرې نۀ وزې تر مـقامه

. . . . . .

هـرکاه ناامید شوم خبر راغی چې خان جنت مـکان بادشاه
په قلعه دکوالیر محبوس کړ ـ نور سل کسه کم و بیش چې لـۀ
قبیلو سـره راسره وو په تاریخ دوولسم د سن مـذکور
(۱۰۹۲) په سلخ د رمضان په لشکرې يې واړول چې ما بین
حـد د مون او د افریدیو دی .... د بیالۀ بهـرام سـره جنګونه
کوي او په نتیجه کښې جـرکه (ډلې) ..... تمامې جـرګې خـان
ته وویل چې هغه د تا زوی دادې نسې اختیار د تا کۀ سردارۍ
دۀ ته ورکوې کۀ هغۀ ته ـ خان علیین مکان ورته په ځواب
وویل چې د مـا آزردګی دا ساعت د دواړو په سـرداری

(c) ketabton.com: The Digital Library

نۀ ده پۀ هغه جرګه چې څۀ مقرر شوی وو د بهرام
سره چې خان جنت نښان چې پۀ قید دی خلاص دې شی دا
پۀ کوم سبب پۀ ګوالیار کښې محبوس شۀ؟ بویه لکه چې ـ
قرار داد شوی دی د ګوالیار دې کوز شي پۀ منصب دې
سرفراز شي ـ دویم داچې محال تري بولاق دې و ماته
راکړل شي او شل زره روپۍ مددخرڅ ـ معرکه پۀ داتمامه
شوه ـ چې لا شوړې لره راغلو ما خان ته عرض وکړ چې
دا ساعت د ما فکر او سن و سال تقاضا د سرداری نۀ
کا ـ داهومره تالاش مې هم محض د پلار د خلاصي دی ،
ګنې د بهرام نه سرداري اخیستل د خدای تعالیٰ پۀ کرم
وماته اسان دي ـ هرچې تا دا معرکه وکړه وېر دې بنۀ
وکړۀ زۀ هم پرې راضي شوم اوس دما دوخت تقاضا
داده چې دتا پۀ خدمت دې کفش برداري ،کوزه برداري
کوم چې تربیت کېږم ـ اما یو شرط کړم ترهغه وخته پورې
چې څو خان دما او د بهرام پۀ ناستي راضي شوی نۀ
دی ..... (تریو شمېر پېښو او سردارانه جنګونو کولو
وروسته لیکي) ..... خان علیین مکان لۀ هغې جرګې بیا
راغی نظام پورته ـ ماته یې وفرمایل چې څونصو روپۍ
درې ماهه مونږ د تادخرڅ د پاره د بهرام سره مقرروې
کړې ـ تۀ خپل سرې ورسته خپرآباد ته چې اخلي یې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماورته ووې چې دما د تا قرار دادسره هومره وۀ
چې خوتۀ دما او بهرام سره پۀ اتفاق راضي شوې نۀ
يې ، اوس چې تا اودۀ سره اتفاق وکړ دما پۀ اتفاق هم د
بهرام سره راضي شوې اوس د ما د تاسره جدايي ده :

هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ

نور مې امیرخان ته وکښل ، امیرخان دېره ارزو زما
د بللوکوله امازۀ ورنۀ رغلم ، چې دماخط ورغی پۀ هغه
زمان يې پروانه اوپنځه وکښه - دظفرخان نیایه پۀ لاس
پۀ معرفت د ملک محمد ارباب و رائۀ مان سنګه دیوان راستوله
نۀهم وروان شوم چې پۀ ځلوزیو ورغلم ازادخان نیوی،
ملک محمدارباب اوغېره کتخدایان پۀ موجب د امیرخان واستقبال
ته راغلل پېښورلره ورغلم رائۀ مان سنګه دیوان مې د امیرخان
ولید - اَس او سروپای يې د امیرخان لۀ لوریه راکړ - ممرېز
خان جماعه دار يې د امیرخان راسره کړ - دکړپو پۀ لاړې کابل
لره ورغلم - د امیرخان دکوچ وخت وۀ جلال آباد ته - یوه شپه
مې پۀ کابل وشوه - امیرخان ځواب راستوۀ چې سبا به
د ما دېره پۀ بکرامي وي - ساعت د تا د ملازمت تهم سبا
دی ور سره راووتم - پۀ بکرامی دی دېره مشۀ لا پۀ ولاړۀ
مې ملازمت وکړ - چې نۀ يې ولیدلم راته يې وویل چې پۀ
ځان د بهرام بلا راغی - نو ورسره تر جلال آباده راغلم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېرې مهربانۍ يې کوله ، د مالۍ خدمتګارۍ هم رضامند شۀ ،
دوه صدو پنځاهې منصب يې د ما تجويز کړ او هغه برادرۍ چې
د ما سره وه د بهرام نه يې عليحده کړه نورې يې سرو پای
او کمر خنجر راکړه زۀ يې پېښاور ته رخصت کړم ..... هغه
وخت چې زۀ د خان عليين مکانه خاطر آزرده مغل له راغلم
متعلقات پۀ نظام پور وو۔ خان عليين مکان ازراه اعتراض
راروان کړه جيناګړ ته راغلل ..... (تر دې دوسته لۀ بهرام
نه د خلکو خوابدګي او ددۀ ظلمونه بنيي او بيا د خان پۀ باب د خلکو
پر يکړه بيانوي) ..... اما اولس پۀ جمع (لۀ بهرام) ځنې
راوجاروت ۔ معرکه يې وکړه چې زمونږ سردار مؤلف د کتاب
(افضل خان) دی ، بهرام چا سردار کړی دی ۔ زۀ پۀ پېښاور
کښې وم چې سړي د اولس راغلۀ چې رادرومه څۀ لره د مغل
محتابي کړې ..... نور زۀ لۀ پېښاوره جيناګړ ته راغلم ۔ د
اولس کد خدايان واړه رالره را غلل چې مونږ د بهرام سره اوس
پۀ بدې برمنډ شو و روزګار مو سره غلط شۀ پاڅه
راځه ۔ پۀ بهرام هم اور ولګيد ، ز مکه پرې تو ده شوه ۔"
(لۀ ۴۹۲ څخه تر ۵۰۰ مخ پورې لنډيز) .

کيسه اوږده ده خو نتيجه يې داده چې د ۱۰۹۲- ۱۰۹۳ کلو پۀ
پېوستون کښې د اشرف خان تر بند وروسته افضل خان
رسماً سرداري پۀ لاس کښې ونيوه او لۀ همدې وخت نه ددۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسرداری دوره حسابله کیږي .

۳- پهٔ تاریخ مرصع کښې دافضل خان دکورهموا وزامنویاد :

« نقل دی لهٔ نیک بخت چې خانه زاد قدیم الخدمت وه او نهایت سخي او پهٔ طاعت پهٔ عبادت به دالله تعالیٰ شب وروز مشغوله وه ، پهٔ هر ملک پهٔ هر بلاد چې څوک ملا درویش وه همه ددې وظیفه خوار وو۔ ډیره فقیر دوسته وه ، زهٔ یې یوه ورځ فقیرجمیل بیک لره ورستولم چې دمؤلف دفرزند دپاره دعاوکا ، زهٔ ورغلم پهٔ ډیر الحاح یې څنې دعاوغوښته سریې یو زمان پهٔ مراقبه کړهٔ۔ راته یې وویل چې نیک بخته تهٔ یو فرزند غواړې ما فی الحال دوه ولیدل نور به هم پسې وشي ، پهٔ لږ مدت کښې لهٔ بي بي آیسې چې کور دمؤلف دی دوه فرزندان محمد علي او محمد حسن څنې پیدا شول او امید دنور و شته . او د بل کور دپاره یې مکرر پهٔ ډیرالحاح ورستولم چې هغه دبي بي ورځره وه اما هیڅ ځواب یې رانهٔ کړ۔ دهغې هیڅ و نهٔ شول. » (۶۰۳ مخ)

د ۱۱۱۷ هـ ق کال پهٔ پیښوکښې لیکي :

- « یوسرو پای یې محمد سعید دما فرزند ته ورکړ » (۳۸۱ مخ).

د ۱۱۱۹ هـ ق کال پهٔ پیښوکښې لیکي :

- « فرزندی سیف الله خان مې دلاچې فرځدارکړهٔ » (۳۸۵ مخ)

- « هرکاه چې فرزندي سیف الله خان خبرشهٔ لهٔ لاچې پسې راغی » (۳۸۵ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۱۲۵ هـ ق کال پۀ پېښو کښې لیکي :

ـ « د محبت لور مې محمد علي خان ته غوښتې وه » (۴۰۸ مخ).

د ۱۱۲۶ هـ ق کال پۀ پېښو کښې لیکي :

ـ « ما د خپلو وابسته ؤ سره مستحکمه قلعه پۀ نظام پور سازه کړه فرزندي سیف خان مې جانشین کړ » (۴۱۱ مخ).

د ۱۱۲۷ هـ ق کال پۀ پېښو کښې لیکي :

ـ « ما فرزندي محمد علي خان د بازو نو سره پۀ استقبال حسن ابدال ته ورستولی ؤ » (۴۱۳ مخ).

ـ « پۀ وخت د رخصت یې خلعت فرزندي محمد علي خان ته ورکړۀ » (۴۱۳ مخ).

د ۱۱۲۹ هـ ق کال پېښې :

ـ « فرزندي سعید خان فوځدار دلاړې وۀ » (۴۱۳ مخ).

ـ « پۀ کار د خپر د محمد علي خان چې نسبت یې د محبت د شهباز خان د زوی کړه وۀ ـ سرای ته د قبایلو سره راغلی وم ، یې داخبر راور سېدۀ زه مې کار خپر پېوند کړ .... سباې محمد علي خان د فوځ سره روان کړ » (۴۱۴ مخ).

د ۱۱۳۰ هـ ق کال پۀ پېښو کښې لیکي :

ـ « محمد علي خان پۀ سن د پانزده سالګی ، محمد حسن د چارده سالګی ، اسدالله خان د یازده سالګي ، محمد اشرف د انه سالګي پۀ رکاب کښې راسره حاضر وو . » (۴۱۷ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۱۳۰ کال د ذی الحجې اتم؛

ـ " پۀ وخت دیورش والده د محمد علي خان پۀ حال د نزع وه، حفر دکور جنازې ته یې معطل نۀ شوم " (۴۱۶ مخ).

د ۱۱۳۰ هـ ق کال د لوی اختر ورځ:

ـ " صدر رحمت پۀ محمد علي خان شه، ښه تردد بهادري یې وکړه، تر واړو سوړو پۀ سرهمرکاب همعنان تر شیدو پورې پۀ نامدار پسې تۀ، سواره یې پریستل پۀ داسن د محمد علي خان چې د پنځلسو کالو پوره شوی وۀ اوهم والده یې پۀ د کال هغه شپه چې مالۀ جینا کوړه کوچ وکړ وفات شوه." (۴۱۸ مخ).

ـ " پۀ سبا فرزندي سعید خان چې فوځدار دلاچي وۀ، دتري ډ ـ ق سوارۀ پیاده ور سره سرای ته راغی." (۴۱۸ مخ).

د ۱۱۳۵ هـ ق کال د رجب ۱۷ نېټه:

ـ " .... او د برخوردار محمد اشرف د بنادۍ کار هم درپېش ۀ." (۴۴۱ مخ).

ـ " پۀ تاریخ د دوولسم د رجب سنه ز رسل پنځه د هرش کار د برخوردار د بنادۍ پۀ اتمام ورسېد " (۴۴۲ مخ).

ـ " برخوردار محمدحسن خان چې د خپرآباد فوځدار وه ...." (۴۴۴ مخ).

ـ " ماهم پۀ حسب قرار داد برخوردار اسدالله خان پۀ فوځداری د لاچې مقرر کړ." (۴۴۴ مخ). (۲)

دريم: د سکندر خان ختک دوينا څوسندونه:

۱ـ سکندر خان ختک دافضل آباد دباغ په ستاينه کښې يوه
۸۴ بېتيزه قصيده لري چې ددې باغ هرارخيزه معرفي يې پکښې کړې
او ددې باغ په وسعت او فسحت غږېدلی دی، موږ يې دلته ددې
باغ د پېژندنې لپاره څو بيتونه راخوښوو:

[۶] کهٔ رضوان يې لهٔ نشاطه خبردار کا
دا مکان به د بهښته سره شمار کا

[۷] ننه، پاس لکه بنيښه هسې صفا دی
دزړهٔ حال وهر سړي وته آشکار کا

[۸] تهٔ به وايې د بهار تنا غورا شوه
اوازونه چې پهٔ هر لوري آبشار کا

[۹] تحفه نهر يې پهٔ منځ کښې دی راغلی
چنار، سروه هم عجب پرې نمودار کا

[۱۱] بې حسابه فوارې پکښې ولاړې
پهٔ يوځل د پښه کال غوندې امطار کا

[۱۷] پهٔ محل کښې د تصوير کلونه واړه
پهٔ سړي باندې اهار لکه بهار کا

[۲۳] کهٔ کلاب دی، کهٔ چنبه، کهٔ نور کلونه
پهٔ خپل قدر معطر کوځه ديار کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هـر لور جوړنه زلمي رائي پۀ سپل
[۲۸] خپلې ـ خپلې مېړې وارې پۀ وار کا

د حاسد پۀ خولۀ دې خاورې د حسدشي
[۳۱] کۀ تر دۀ نه به تعریف د "شاه مار" کا

چې ناګاهه پۀ ګلونو کښې بنکاره شي
[۳۵] تورې ستر ګې دهوسه بلا ناتار کا

د کشمیر، د کابل کله دا صفتا دی
[۳۶] چې ملوک پکښې هر لور د بازو بنکار کا

پۀ بهار ې پۀ اطراف لس دوولس کروهه
[۵۰] پۀ انواع ـ انواع ګلونه هلک بنکار کا

اشرف خان به پۀ دا باغ پۀ جهان یاد وي
[۸۰] سکندر هم کوندې څوک یاد پۀ خپل اشعار کا

۲ـ کله چې اشرف خان پۀ زندان کښې لوېږي د دۀ ورور
سکندر خان خټک یو منظوم لیک وراستوي او د کور کورنۍ او
خپلوانو حالات ورته لیکي ، پۀ همدې لیک کښې د افضل خا ن
کم سني او پۀ عین حال کښې تدبیر هم ورته ستایي،
دا لیک د ۱۰۹۳ هـ ق کال د محرم پۀ څلورمه نېټه کښل شوی
او دا وخت د دۀ د سرداری ه او مشری ه تصدیق کوی چې
دلته یې لۀ موضوع سره مربوط بیتونه رااخلو :

همنشين دې همکي حرامخوارهٔ وو
افضل خان نهٔ وُ خبر پهٔ عمرکم وُ
پهٔ جفا واړه ودهٔ وته قفا کړه
پهٔ تنها صورت د خدای باندې کرم وُ
هېڅ کمی يې دانصاف مصاف ونهٔ کړ
مدعي يې وُ پهٔ غم دوست يې بې غم وُ
آفرين باندې مغل پښتانهٔ وائې
منتشر يې نوم د توري پهٔ عالم وُ

+ + +

افضل خان د شلورکم زيات کهٔ (پهٔ) سن دی
پهٔ حکمت پهٔ مصلحت لکه کهن دی
زور قوت يې دلښکر واړه ليدهٔ شي
د خورشيد غوندې يو اس يوتې جوشن دی
پهٔ اعدا يې هره ورځ ناره د جنګ وي
لهٔ هر اسه يې آرام نهٔ شي غمجن دی
پهٔ غليم بهارستان دهٔ خارستان کړ
پهٔ معنیٰ مون ته توتکی لکه کلشن دی
عندليب غوندې خبر دهر کل اخلي
دلاسا دلوی هلک کا پرې مېين دی
شفقت، احسان، حيالري بې حده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مردۍ شهرت يې هم په مرد وزن دی
د فلک د شواړې واړې پرې آسانې
يا تورغر دی په همت کښې يا آهن دی
بنکار د غشي، د توپک، د باز، شاهين کا
استاد شوی د هر علم، د هر فن د کا
بنهٔ سواد لري، بنهٔ خط، بنه يې انشاء ده
الغرض چې په هر فن کښې مبرهن دی
که تر تا رسېدی نهٔ شي کيله مهٔ کړه
چې ياد شوی په هغه جهان دکن دی

+ + +

"کوهر" د دی د اخلاص په بنه صدف کښې
هره چار د افضل خان په حکم وک کا
په تحقيق لرو برنهٔ کا ځنې غاړه
"افضلخان" يې په مرينې که ګزک کا
"بهادر خان"، "صيف خان" لمسي دې لکه ګل دي
خدای دې دواړه خانصاحب ته مبارک کا

+ + +

"خالد خان" د افضل خان جای نشين وُ
د هر احسان د سره شوی وُ خو بيا لاړ (۴)

+ + +

څلورم: د "تذکرهٔ انتخاب یادګار" سندونه:

دا اردو نامتو لیکوال او شاعر میر مینایي د کاظم خان شیدا پهٔ باب لیکي:

" شیدا کاظم خان، خانزاده قوم ختک، دپښتو نخواسړی، پهٔ پرهېزګاری اوخدای ترسی کښې بې مثاله وُ، پرښته خویه بنیادم وُ. اروپدل شوي دي چې دوی یوه جینی روزلې وه چې هغه هوښیاره اولویه شوه نو خلقو وغوښتل چې دوي یې پهٔ نکاح کړي، دوي قبوله نهٔ کړه، دهغې جینی هم ددوی د شتمنیا د نظر د وړاندې داخوښه وه، یوه ورځ یې خُان جوړ کړ او د دوی د خلوت خُای ته ورلړه ورغله، دوی یې پهٔ غرض پوه شول او خپله کوټه یې د شمعې پهٔ لنبه کښېښوده چې پهٔ سوځېدلو شوه نو لاس یې راکښلو - هغې وپوښتل چې داخهٔ خبره ده؟ دوی ورته وفرمایل چې دې از مایښت لره یې پهٔ شمعې لاس اینبی وهٔ چې کورم چې لهٔ ما ددغه اورزغم دلی شي کهٔ نه؟ نو پهٔ هېڅ طور زغم ونهٔ شو اوهر کله چې ددغه اور دتاو زغم ونهٔ شو نو دوی داورچې خوچنده لهٔ دغه اوره زیات دی به خرنګ زغمونکی شم - هم هغه ورځ یوهٔ ښکلې سړي ته نکاح کړه - پاکي ده الله لره داسې سپېخلي

ذات وي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

" د جناب مستطاب نواب محمد فیض الله خان بها در عرش منزل پهٔ عهد کښې یې دلته پهٔ دهر شان شوکت د میاشتې پهٔ زر روپو نوکري کوله ، پهٔ ورکړه بخښنه کښې تر لرې لرې مشهور وُ ، د دوي مشران هم د شوکت او دولت او نغارې څښتنان وو . "

" شعر به یې اکثر پهٔ پښتو ژبه کښې فرمایلو کله - کله به یې پهٔ فارسی کښې هم طبیعت و آزمویلو " هی هی افغان " د حضرت مؤید من الله جناب علي محمد خان دمرینې تاریخ هم د دوی د اوچت فکر نتیجه ده - او نادرشاه چې هندوستان پهٔ زور زیاتي ونیولو - غم عام " یې د دغه نیولو تاریخ وویلو ... "(۴).

پنځم : د " تذکرهٔ کاملان رامپور " سند ونه :

حافظ احمد علي شوق رامپوري پهٔ تذکرهٔ کاملان رامپور کښې د زړو او باوري سندونو پهٔ بنا د کاظم خان شیدا پهٔ باب پهٔ ډېرُ پوره معلومات لري چې دلته یې مربوط مطالب چې لومړی لاس مواد یې بللای شو ، رااخلو :

د تذکرهٔ تکملة الشعراء څښتن لیکي : خان عالیشان چې د ښځتون ختک قام رئیس دی ، د فرشتې پهٔ څېر بنیادم دی ، زاهد ، پرهېزکار ، متشرع ، د ډېره اوچته حوصله لرونکی ، نازک دماغه او د درناوښت څښتن دی ، د هر زغمناک کونديې

د زغم او درناوي غږ دی ، په انساني صفتونو پسوللی ، دهنر
او قابلیت او د سخندانۍ تولنه او دفضل او کمال څښتن ،خوش
مقاله ، نازک خیاله او زړه ته ورپورې د تازه معنو موندونکی
او په نزاکت پوروړ ، زړه ته ورپورې او د هسکو مضمونونو
لټوونکی دی - تر دغه وخته دپښتونخوا په پښتنو کښې داسې
خوږ ه .ویناکوونکی سړی نه پیدا شوی دی او نه به پیدا
شي ،لا دایران په باب هم بحث کیدای شي ، په نازکخیالۍ او
ادا بندۍ کښې د سلیم ، شوکت بخارایي ، صائب تبریزي ،نامر
سرهندي اوغني کشمیري په شان یکتا دی . په پښتو ژبه
کښې د دوی دیوان دخوش خیالۍ او سخندانۍ لۍ رویه
مشهور دی ، کله-کله به یې په فارسۍ کښې هم غزل ویلو
د مرینې یې یوځوکالونه کړي. د راجه ټول رای ناظم اوددۍ
د قتل تاریخ یې داسې نظم کړی دی ..... د نواب سید علي
محمد خان صاحب تاریخ یې هی هی افغان (۱۱۵۷هـق) ویلی دی،
په هندوستان یې د نادر شاه د حملې تاریخ دغم عام (۱۱۵۱هـق)
نه راایستلی دی ، دکمایون د غړۍ په لمنه کښې د چلیکا په
ځنګل کښې د محصورېدلو تاریخ یې د فساد عظیم (۱۱۶۵ هـق)
د تورپر نه راایستلی دی . د شیدا د دیوان دوه څنګې د
زیارت سوات په کتبخانه کښې شته دي.

یوه نسخه په غټ قلم لیکلې شوې ، خلور سوه شپاړس

(c) ketabton.com: The Digital Library

محونه لري ، په پای کښې يې دا عبارت دی . " تمام شد
دیوان شیدا تصنیف خان عالیشان مظهر لطف والاحسان
حاتم زمان خانزاده کاظم خان سلمه الرحمٰن بتاریخ
بیست و دویم شهر جمادی الثاني ۱۱۹۱ له بخط بنده احقرالعباد
فیض علي ولد قاسم بیک بپاس خاطر اخون زاده میاں غلام
حیدر سلمه الله تحریر یافت ."

مؤلف د دهٔ دیوان را پېژني او بیا د وفات قطعې تاریخ
را اخلي چې د یوې عنوان دی :

تاریخ د وفات د دریو دوستانو او دیو زوی :

آه بد و ماه سه مشفق مرا
چار میش قرهٔ عینم بدان
زان دو شهید و دو سعید ازل
طبل رحیلی زد سوی جنان
سال وصال همه گردد جلی
بود غم یی هم آه - خوان هم

(۱۱۶۱ هـ ق)

..... د دې دیوان په سر پانې چا کابلي د شیدا
خان د وفات دا تاریخ لیکلی دی :

د شیدا په آشیان جهان تریخ شه
د کباب غوندې یې کون و مکان سیخ شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درست بدن يې ګويا زړۀ ؤ پۀ سينې کښې
دل نظير د کاظم خان د مرګ تاريخ شه

لۀ " دل نظير" نه (۱۱۹۴ هـ ق) جوړېږي . غالباً همدا يې تاريخ وفات دی ، د دوی پۀ باړه کښې لۀ کومه کتابه يا زباني روايته نور حال معلوم نۀ شه ". (۵)

شپږم : د خانزاده شېرعليخان مجمع الانساب :

د کاظم خان د کورنۍ د غوټې پرانستلو پۀ برخه کښې چې کوم سند تر لاسه شوی هغه د خانزاده شېر عليخان " مجمع الانساب " دی . شېرعليخان د خوشال خان خټک د خانۍ د کورنۍ يو فاضل شاعر او ليکوال غړی دی چې د ۱۲۵۸ هـ ق کال د ذی الحجې پۀ ۲۰ نېټه زېږېدلی او پۀ ۱۳۲۳ هـ ق کال د ۶۴ کلنۍ پۀ عمر وفات شوی دی ، د شاهداد خان ، هغه د سرور خان ، هغه د سردار خان ، هغه د شهباز خان ، هغه د سعادت خان ، هغه د افضل خان ، هغه د اشرف خان او هغه د خوشال خان خټک زوی ؤ .

شېرعليخان د خپل ستر نيکۀ افضل خان پۀ پېروی پۀ پښتو ، فارسي او اردو ژبو د مجمع الانساب پۀ نامه يو کتاب کښلی او د خټکو د خانۍ د کورنۍ شجرې او حالات يې پکښې راوړي ، دی د خپل کتاب پۀ سريزه کښې ليکي :

« وائي دا بندهٔ نادان مملو پهٔ عصیان یعني خانزاده
شهرعلیخان پهٔ خدمت د هوښیارانو روښن دلانوکښې
پهٔ ډېر تواضع او نیاز سره عرض د عاجزۍ پهٔ دامضمون
لري چې هرکاه پهٔ مطالعه دکتاب د تواریخ مرصع پهٔ زېور
د معنیٰ آراسته او بنائسته دی او پهٔ مجلس د تاریخ دانو
خلقو کښې دکلو دسته دی، دی پهٔ معنیٰ کښې د دوکان
دی او مصنف ددهٔ زمونږ نیکه محمد افضل خان دی چې
دهٔ خپل انساب یعنی واړه نسب نامه پهٔ ښه تفصیل سره
لهٔ ابتدا د ملک اکوړ خان نه چې سرخپل زمونږ د خاندان دی
تر خپلو فرزندانو پورې بیان کړې ده پهٔ هسې عنوان سره
چې بیا ورته حاجت د تقریر او تحریر نشته ،لهٔ هغه مدت
نه او س زمونږ تر وخته پورې د ډېرو زمانه تېره شوې ده
او پهٔ دا منځ کښې زمونږ پهٔ خاندان کښې د هر ښه علم دان
او قابل ـ قابل کسان پهٔ خپل ـ خپل وار سره هغه جهان ته
لاړ شوي دي لېکن چا دهغو نه پهٔ جمع کولو ددې تقریر او
پهٔ کښلو ددې تحریر سعی کوښښ نهٔ دی کړی یعنی دانسب
نامه چې او س کښی ښتي هیڅا کښلې نهٔ ده دا خو یو دا سبب
معلومیږي چې پهٔ هغه وخت کښې قسم قسم حادثات او دنګا
رنګ تکلیفات پهٔ منځ ددوی کښې راغلي وو . پهٔ سبب
د هغو یوه کم فرصتي شوه ، بله سراسر بې رغبتي شوه،

اوس چې فضل د پاک سبحان دی او بیا کرم د نبي آخر زمان دی . نور ځکه زمونږ حاکم جناب نواب صاحب بهادر خواجه محمد خان دی چې په واسطه ددوی سره زمونږ خاندان واړه برقرار دی ، چنانچه هریو کس له مونږ په خواهش د خپل دوزګار دی . هرګاه چې رغبت د بنده په لوستلو د کتابونو او په لیدلو د تاریخونو او په جمع کولو ددا رنګ حالونو له هرڅه زیات وه . پس له دا سب په دې کوښښ اومحنت سره دا نسب نامه جمع کړی شوه یه هسې مضمون سره چې انشاءالله له ابتداء د خان مرحوم چې مصنف دکتاب دی تر مونږ پورې چې اووه اته پیړۍ تیرې دي هیڅ قدر به پکښې تغیر او نقصان راغلی نه وي او که وي هم شاید ، ځکه چې بنده مرکب له سهوې او نسیان دی . اوس زمونږ نوبت په سر راغلی دی که مونږ وو یقین دی چې پس له موږه به دا کښل په طور د یادداشت باقي پاتې شي ... (د مجمع الانساب دیباچه) .

خانزاده شهرعلیخان پر نسب نامه سربیره نور دهرتصنیفونه هم درلودل او په نظم او نثر دواړو یې کښل کول .

د شهرعلیخان په نسب نامه کښې زمونږ له موضوع سره مربوط دالاندې مطالب ترلاسه کیږي :

۱- په هغه جدول کښې چې دختلو د رئیسانو فهرست

لۀ ملک اکور خان له بیا ترخپله وخته لیکي د محمد افضل خان پۀ برخه کښې وایي :

« د حکومت د پیل کال ۱۰۹۳ ـ د حکومت پای ۱۱۵۳ هـ ق . د حکومت دوره ۶۱ کاله ، د اورنګ زیب او بهادر شاه زمانه»

۲ـ دافضل خان خټک د زامنو پۀ باب لیکي :

« محمد افضل خان چې زموږ پۀ خاندان کښې پۀ خان مرحوم سره مشهور معلوم دی و دوی ته خداوند تعالی اتۀ فرزندان عنایت کړي وُو چنانچه سعدالله خان ، کاظم خان لۀ یوې مورد ، محمد علیخان ، حسن علیخان لۀ بلې مورہ ، عبید خان ، محمد عماد خان لۀ بلې مور . محمد اشرف خان لۀ بیلې مورہ . محمد سعید خان لۀ بیلې مورہ . پۀ دوی کښې سعدالله خان مشروۀ اوس پۀ شهید خان سره مشهور دی حُکه چې د لښکرخان د لاسه چې زوی د محمد علیخان وۀ او ددۀ ویاړ وۀ ، پۀ سرای کښې شهید شوی دی » .

۳ـ دکتاب پۀ اردو برخه کښې د افضل خان د ریاست او سردارۍ پۀ باب لیکي :

« کله چې اشرف خان بندي شو (ددۀ وروړ بهرام د پلرنی ریاست دعوی وکړه) خو خو شحال خان د مشرۍ پګړۍ خپل نمسي افضل خان ته ور پۀ سرکړه .... محمد افضل خان یو پوهې سړی وُ ، دهر کتابونه یې لیکلي وو ـ ددۀ ۶۱ کاله مستقل

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت و چلاوۀ ، اتۀ زامن یې درلودل چې دادوه یې دیادولو
وړ دي سعدالله خان او محمد علیخان ، سعدالله خان (اسدالله
خان) لۀ خپل پلار نه خپه شو . د څو ملا زمانو سره تېری
ته ولاړ هلته یې د تېری ریاست جوړکړ . د محمدافضل
خان د وفات پوخ تاریخ څرګند نۀ دی .»

۴ـ نسب نامه د اسدالله خان د حکومت دوره لۀ ۱۱۵۴ تر
۱۱۸۰ هـ ق پورې ۲۷ کاله شمېري چې د نادرشاه او احمدشاه
دوره ده (٦) .

پایلیکونه:

(۱) پۀ دې برخه کښې د کاظم خان شیدا دوینا
نمونې لۀ کابل چاپ دیوان څخه چې پۀ ۱۳۳۳ هـ ش کال
پښتو ټولنې چاپ کړی ، رااخیستل شوې دي . د تاریخي
مادو د تثبیت لۀ پاره د اسلامیه کالج خطي نسخه لوستله
شوې او د کاظم خان شیدا د دیوان د خطي نسخو پۀ باب
معلومات زمالۀ «پښتو نسخې ـ د پښتو نخوا او دنیا پۀ
کتابتونو کښې» قلمي اثر نه اخیستل شوي دي .

(۲) د تاریخ مرصع اقتباسونه د اروابنیاد استاد
کامل موهمند لۀ چاپ متن څخه شوي دي .

(۳) د سکندر خان خټک د دې قصیدې او ترجیع بند
بشپړ متنونه د دۀ د دیوان پۀ هغه قلمي نسخه کښې دی

چې د پښتو اکیډمۍ پېښور په کتابتون کښې ساتله کېږي .
ما د دواړو بڼې متنونه په دوهم ټوک ادبي ستوري
کښې راوړي دي ، د ۱۳۵۹ کال د کابل چاپ ۳۴۵-۳۶۲ مخونه.
(۴) د دې کتاب اقتباس د اروا بنا د استاد کامل مومند
لخوا ۶۳۰ نومي کتاب نه شوی دی، ۲۰۶-۲۰۸ مخونه .
(۵) دا متن هم د اروا بنا د استاد کامل مومند له یاد
شوي کتاب نه اخیستل شوي ، ۲۰۹-۲۱۲ - ۲۱۵ - ۲۱۹ مخونه.
(۶) د دې نسب نامې د قلمي نسخې فوټو ستنې محترم پردل
خان خټک ر سپارلې وې قلباً منه ترې کوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی

ترلاسه شوې نتیجه

د استفاق طمعه به څۀ کړې لۀ اخوانه

نتیجه یې ورکېدۀ دې لۀ کنعانه

د تبرو سره یو ځای کلونو او روایتونو ، شکونو او تکلونو
او سازونو او لاسوندونو د څېړنې ، تنقید او جاج پۀ پایله کې د کاظم خان شیدا د ژوند اړخونه پۀ لنډ
ډول داسې جوړولای او ترتیبولای شو :

د شیدا نوم « محمد کاظم » (۱) تخلص « شیدا » (۲)
پۀ قام « افغان ختک » (۳) د خان د « خاندان (۴) خانزاده »
د خوشال خان ختک کړوسی ، د اشرف خان هجري لمسی
او د افضل خان ختک زوی وُ (۶) پۀ سرای او افضل آباد

کښې يې استوګنه کړې وه (۷) دی په ځوانۍ کښې له خپل پلار تورې
څخه د هندوستان پر دښې شو او په دې توګه يې د سرداری
په سر پښو شوو او يېښدو نکو پښتو ته شاکړه (۸) .

ددۀ پلار افضل خان خټک د ۱۰۷۴- ۷۵ هـ ق کال شا او خوا
زېږېدلی ؤ (۹)، په ۱۰۹۲ هـ ق کال کښې يې چې پلار اشرف خان
هجري د مغولولۀ خوا ژنداي شو. خوشال خان خټک سردۍ
بهرام ته وسپارله خو افضل خان و نۀ منله او د بهرم تر
منافقت وروسته په ۱۰۹۳ هـ ق کال د خټکو سردار شو (۱۰) او تر
۱۱۵۳ هـ ق کال پورې يې داور رنګ زېب او د هغۀ د اخلافو د
حکومت په دوره کښې سرداری ۶۱ کاله دوام وکړ (۱۱) چې تر
سرداری وروسته يې د پاتې ژوند په باب معلومات نشته او
د مړګ نېټه يې نا معلومه ده (۱۲) .

دا فضل خان خټک دوه ډۀ په باب د سکندر خان خټک لـۀ
دې زبرې څخه چې په اشرف خان يې کوي :

«بهادر خان» «صيف خان» لمسي دې لکه ګل دي
خدای دې دواړه خان صاحب ته مبارک کا (۱۳)

څرګند ېږي چې افضل خان تر ۱۰۹۳ کال وړاندې يعنی د خپلی
او سرداری تر پيلېدو مخکښې وادۀ کړی ؤ او داوخت د
دوو ماشومانو پلار ؤ .

ښکاري افضل خان خټک د ۶ کلنی ۱۷ کلنی په سر

وادۀ کړی وي او دایوه عادي خبره ده ځکه هغه وخت د
خانانو او شتمنو پۀ کور نیوکښې اولادونو ته لۀ ځوانېدو سره
سم ودونه غوښتل کېدل ، لکه افضل خان چې پۀ خپله
هم خپل زوی محمد علیخان ته تر پنځلس کلنۍ وړاندې
د محبت لور غوښتې وه (۱۴) اوتر ۱۱۳۵ هـ ق کال وړاندې
يې محمد اشرف خان ته هم د ۱۴ کلنۍ شاو خوا وادۀ کړی
ؤ (۱۵). دۀ پۀ ۱۰۹۳ کښې دوه زامن د "بهادرخان" او
"صیف خان" پۀ نومونو درلودل (۱۶) چې بهادر خان پۀ تاریخ
مرصع او مجمع الانساب کښې نۀ دی یاد شوی بنایي پۀ
ماشومتوب کښې مړ شوی وي خو "صیف خان" د "سیف الله
خان" او "سیف خان" پۀ نامه شته چې پۀ ۱۱۱۹ هـ ق کال يې دلاچې
یوځدار تاکلی دی (۱۷) اوهم يې بل زوی د محمد سعید
خان پۀ نامه دی چې دې يې هم پۀ ۱۱۲۹ هـ ق کال دلاچې یوځدار
تاکلی دی (۱۸) کېدای شي دا دواړه دیوې مور زامن وي.

د ۱۱۱۴ هـ ق کال شاوخوا فضل خان خټک دوې لاولده
بیبیانې درلودې چې یوه يې بي بي آیسه نومېده او بله د بې بې
نېکبختې وړه وه . بنایي داوخت يې لومړۍ میرمن مړه
شوې وي ، دی د بي بي نېکبختې پۀ تېنګار او ملتیا فقیرجمیل
ښک ته د زوی د غوښتلوۀ پاره دعا ته ورځي ، هغه زېرې
ورکوي چې : نېکبخته ته به یو زوی غواړې ما فی الحال

دوه ولیدل نور به هم پسې وشي او همداوه چې محمد علي او محمد حسن دبي بي آیسې لهٔ نسه پهٔ ۱۱۱۵- او- ۱۱۱۶ هـ ق کلونو کښې یو پهٔ بل پسې پیدا شول خو دوهمې بي بي یې څهٔ ورته ونهٔ وې ، هغه لا ولده پاتې شوه (۱۹) تردې کال (۱۱۱۶) پورې فقیرجمیل بېګ ژوندی وُ او پهٔ همدې کال ومړ؛

چون رفت از جهان این کرامت خدیو
بجز "ق" آمد ز عالم " غریو "

(۱۲۱۶ - ۱۰۰ = ۱۱۱۶ هـ ق) (۲۰)

لهٔ افضل خان خټک کره پهٔ ۱۱۱۹ هـ ق کال اسدالله او پهٔ ۱۱۲۱ هـ ق کال محمد اشرف خان پیدا شول (۲۱) د محمد علي خان مور (بي بي آیسه) پهٔ ۱۱۳۰ هـ ق کال مړه شوه (۲۲)

تاریخ مرصع چې تر ۱۱۳۶ هـ ق کال پورې واقعات پکښې د غلي دافضل خان خټک دنورو زامنو او ماندینو ذکر نهٔ لري او داهم دنورو پېښو پهٔ ترڅ کښې پهٔ ضمني ډول یاد شوي دي .

مجمع الانساب چې دافضل خان خټک دسرداری تر پایه (۱۱۵۳ هـ ق) پورې ددهٔ پهٔ باب غټ ټوکي لیکي چې دهٔ لهٔ پښتو ماندینو نه اتهٔ زامن درلودل : سعدالله خان او کاظم خان لهٔ یوې مورې ، محمد علي خان او حسن علي خان لهٔ بلې مورې ،

عبيد خان او محمد عماد خان له بلې موره ، محمد اشرف خان له بلې موره او محمد سعيد خان له بلې موره (۲۳).

د تاريخ مرصع او مجمع الانساب په پښتوکښې تناقض لږ دی، د تاريخ مرصع په قول په ۱۱۱۴ هـ ق کال افضل خان دوه ماندينې درلودې چې له يوې نه محمد علي خان او محمد حسن خان وزېږېدل خو د بلې اولاد نه ؤ . دۀ دوه مشر زامن سيف الله خان او سعيد خان هم درلودل چې يو يې په ۱۱۱۹ - و بل په ۱۱۲۹ هـ ق کال دلاچې پوځداران تاکلي وو - د سکندر خان په وينا سيف الله خان د اشرف خان تر بندي کېدو (۱۰۹۲ هـ ق کال) وروسته او د ۱۰۹۳ هـ ق کال د محرم تر ۴ ورځې زېږېدلی نو يقيناً دا دوه زامن يې له بلې ماينې يا نورو ماينو څخه وو، همدارانه په تاريخ مرصع کښې دا سدالله خان او محمد اشرف خان د مېندو د يادولو ضرورت نه دی پېښ شوی (۲۴) خوکوم تناقض چې را منځ ته شوی هغه دادی چې په تاريخ مرصع کښې د افضل خان د شپږو زامنو نومونه : سيف الله خان ، محمد سعيد خان ، محمد علي خان ، محمد حسن ، اسدالله خان او محمد اشرف خان را غلي (۲۵) خو په مجمع الانساب کښې د سيف الله خان نوم نشته ، محمد حسن د حسن علي په نوم را غلی ، اسدالله خان د سعد الله خان په نوم راغلی خو په حاشيه کښې اسدالله هم ورسره شته (يعنې دی په دواړو نومونو يادېدۀ)

کاظم خان ، عبید خان او محمد عمار خان نوي نومونه
دي چې تاریخ مرصع یې نهٔ یادوي او هم سعدالله خان
تر ټولو مشر کنل شوی چې دا سمه نهٔ ده اما څرنګه چې
سرداري دهٔ تر لاسه کړې نو شهر علیخان فکر کړی چې
دی به تر ټولو مشر وي (۲۶) همدا راز عبید خان بنایي د
همغه عابد خان بل نوم وي چې کاظم خان شیدا دغه
دیوان نسخه ددهٔ په لاس محمدي صاحبزاده ته لیږلې ده (۲۷).

څرنګه چې تاریخ مرصع تر ۱۱۳۶ هـ ق کال وروسته
پېښې نهٔ لري او مجمع الانساب تر ۱۱۵۳ هـ ق کال پورې
دافضل خان خټک ژوند یقیني کوي نوځکه په دې مودد
کښې ددهٔ د زامنو پېدا کېدل یوه عادي او طبیعي خبره دد
چې په دې توګه مجمع الانساب د تاریخ مرصع معلوماتوي
نه بلکې بشپړوي یې .

په روایاتو کښې د کاظم خان شیدا زېږېدل د ۱۱۳۵-
۱۱۴۰ هـ ق کلونو تر منځ اټکل شوي ، په دې برخه کښې نهٔ
ماتوونکي او نهٔ زیات روښانوونکی سند نهٔ شته نوځکه
همدا اټکل په دې برخه کښې تر اوسه یوښهٔ اټکل
پاتې شو .

کومه مرثیه چې د کاظم خان شیدا په دیوان کښې د
دهٔ د والد په نوم چاپ شوې ، سمه نهٔ ده ، دا او ورپسې

قطعه يې د «والدې» په مرينه دي چې دا خبره هم دخطي نسخو د دود او هم ددې د بېتونو د جوړ ښت او بشپړتابۀ په اساس معقوله او د منلو وړ ده (۲۸).

همدا راز مجمع الانساب د ليکنې له مخې محمد کاظم د اسدالله خان سکنی ورور دی او اسدالله خان د ۱۱۱۹هـق کال شا او خوا زېږېدلی او هم څرنګه چې د ۱۱۱۴هـق کال شا او خوا ددۀ د مور يا دو نه نشته نو ددۀ له مور سره د افضل خان ختک د وادۀ کولو وخت د ۱۱۱۵-۱۱۱۸هـق کلونو په موده کښې اټکلولای شو، کۀ د اسدالله خان او محمد کاظم خان د وی مور د وادۀ په وخت کښې د ۱۶ يا ۱۸ کلو وي نو د زېږېدو وخت يې د ۱۱۰۰ هـق کال شا او خوا ګڼلای شو او کۀ د افضل خان ختک دا بي بي د ۱۱۰۰ هـق کال زېږېدلې وګڼو نو په ۱۱۸۹ هـق کال چې وفات شوې او کاظم خان شيدا يې دوې مرثيې ويلې دا د ۸۹ کلونو عمر درلو دونکې وه، چې دا عمرهم له طبيعي اوهم له عقلي نظره نامناسب نۀ دی نو د شيدا د ديوان ددې مرثيو نتيجه به دا وي چې دا دوارې قطعې دۀ د خپلې مور په مرينه ويلې دي.

کۀ څۀ هم اسدالله خان د شيدا سکه ورور ؤ (۲۹) خولۀ يوې خوا د ددۀ له سرداری او جاګير سره مينه نۀ وه

اولۀ بله پلوه د حانۍ او سرداری په سر ددوی
کورنۍ شخړې ناوړه حالت ته رسېدلی وې نو ځکه
دۀ په ځوانۍ وطن پرېښود او د هند مسافر شو، دې
پېښو ته ددۀ په دیوان کښې تلمیحي اشارې شوې
دي (۳۰) او همدا ناوړه حالت ددې باعث شوې ددۀ وړوکی
اسدالله خان ددۀ دوارۀ لښکر خان په لاس ووژل
شي (۳۱) او همدې پېښې کاظم خان هم دردولی او
ژړولی دی :

لۀ حبِ جاهه په زړۀ کښې سوړیم
د ملنګۍ وکار ته جوړ یم
سرمې خوړلی د شیرین وروردی
لۀ زندګۍ تر حلقه موړ یم (۳۲)

شیدا حنفي مذهب ، د نقشبندیه طریقې صوفي (۳۳) ،
دیندار او پرهېزګاره انسان ؤ (۳۴) ، وادۀ یې نۀ ؤ کړی
او په کومه قطعه کښې یې چې د « قرۀ عین » په مرینه
او بنکې تویې کړې او قرة العین د زوی استعاره ده خو
دا ددۀ زوی نه بلکې زوی خوانده یې ؤ چې دمسریه
(مصرع) د « بدان » کلمه مراحت پرې کوي . یعنې : زما
د ستړګو کسی یې وبوله !

د شیدا شعر او شاعري په پښتو ادب کښې ځانګړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته منفرد مقام لري او د تذکرهٔ کاملان رامیوړ دا لیکنه
یې نهٔ داسې څوک راغلی نهٔ به راشي حتیٰ پهٔ فارسي
کښې هم د بحث وړ دی (۳۵) کهٔ کامل صاحب مبالغه
او غلو هم کړلې (۳۶) ددهٔ د انفرادیت پهٔ برخه کښې دهره
مبالغه پهٔ ښکاري .

شیدا د نواب محمد فیض الله خان پهٔ عهد کښې د
میاشتې د زړو روپو نوکري درلوده (۳۷) اوتر پایه
خپل پلرني تیاتوبي ته پهٔ دی راستون شوی

د شیدا د مړینې تاریخي ماده د «دل نظیر =
(۱۱۹۴ هـ ق) پهٔ ګوروکښې نغښتې ده چې یوه ناپیژندل
شوې کاملې شاعرې ویلې ده (۳۸) او داخبره ترڅو چې
ما تر اوسه کښه سند پیدا نهٔ شي او تر دې کال دروسته ددهٔ
د ژوند نورې نخښې نښانې وهٔ موندلې شي ، دمنلو
وړ ده

پهٔ پای کښې ددهٔ د لوی عالم استاد کامل مومند
روح ته دعا کوم ځکه لهٔ دوی پهٔ دې موضوع کښې عالمانه
بحثونه او ټکونه نهٔ وای کړي زما به ددې لیکنې لور
ته پام نهٔ ؤ اوښتی او دا رساله به نهٔ وه کښل شوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پايليکونه :

(۱) د ديوان سريزه ، ددۀ پۀ خپل قلم .

(۲) همدا سريزه .

(۳) همدا سريزه .

(۴) ديوان ، د پښتو د شعر حسب حال ، ۱۴ مخ .

(۵) تذکرۀ انتخاب يادگار ، د اروا بنادا ستاد کامل د ۱۶۳۰ کتاب پۀ حواله ، ۲۰۶ مخ .

(۶) مجمع الانساب د خانزاده شيرعليخان،قلمي نسخه .

(۷) د کاظم خان شيدا د ديوان بېلا بېلي برخې .

(۸) د ديوان بېلا بېلي برخې .

(۹) دا انټکل د سکندر خان ختک لۀ هغه منظوم ليک نه چې پۀ ۱۰۹۳ هـ ق کال يې د اشرف خان پۀ نوم ليکلی او هلته دی د شلوکلو کم و زيات کښې ، کولای شو . د ليک قلمي متن د سکندر خان د ديوان پۀ هغه نسخه کښې چې پۀ پښتو اکيډمۍ کښې خوندي ده . را علی او د ليکوال د دوهم توک ادبي ستوري پۀ ۳۴۴-۳۶۲ مخونو کښې خپور شوی دی ، او هم افضل خان پۀ تاريخ مرصع کښې د ۱۰۹۲ کال د پېښو پۀ ترڅ کښې څان د ۱۶-۱۷ کلوبيي .

(۱۰) دا موضوع په تاریخ مرصع کښې افضل خان خټک ـ په
تفصیل لیکلې ، ۴۹۲ - ۵۰۰ مخونه .

(۱۱) مجمع الانساب ، د خانزاده شېرعلیخان ، قلمي نسخه .

(۱۲) همدا اثر .

(۱۳) د سکندر خان خټک لیک ، ادبي ستوري ۲ / ۳۵۴ مخ .

(۱۴) تاریخ مرصع ، ۴۰۸ مخ .

(۱۵) تاریخ مرصع ، ۴۴۱ مخ .

(۱۶) د سکندر خان لیک .

(۱۷) تاریخ مرصع ، ۳۸۵ مخ .

(۱۸) تاریخ مرصع ، ۴۱۳ مخ .

(۱۹) تاریخ مرصع ، ۶۰۳ مخ .

(۲۰) په تذکره مسجې د فقیر جمیل بېګ د قبر ډبره .

(۲۱) تاریخ مرصع ، ۴۱۷ مخ .

(۲۲) تاریخ مرصع ، ۴۱۶ ، ۴۱۸ مخ

(۲۳) مجمع الانساب ، قلمي نسخه

(۲۴) مجمع الانساب دا ذکر کوي .

(۲۵) تاریخ مرصع ، بېلا بېلې برخې .

(۲۶) مجمع الانساب

(۲۷) وګورئ د دیوان سریزه ، د شیدا په خپل قلم .

(۲۸) وګورئ د دۀ د دیوان خطي او چاپ نسخه

(۲۹) مجمع الانساب .

۳۰. مونږ لۀ دیوان نه پۀ یې خیر کې کښې کا في ذموني ورکړي دي .

(۳۱) مجمع الانساب .

(۳۲) دیوان .

(۳۳) دیوان، د دۀ د خپل قلم سرېزه .

(۳۴) تذکرۀ انتخاب یادګار او تذکرۀ کاملان رامپور، دارواښاد کامل، د ۱۶۳۰ کتاب پۀ حواله ، ۲۰۷ مخ

(۳۵) تذکرۀ کاملان رامپور، د یاد شوي کتاب پۀ حواله .

(۳۶) استاد کامل : ۱۶۳۰ نومی کتاب ، ۲۰۹ مخ .

(۳۷) تذکرۀ انتخاب یادګار ، دارواښاد کامل د یاد شوي کتاب د ۲۰۷ مخ پۀ حواله .

(۳۸) تذکرۀ کاملان رامپور ، د استاد کامل پۀ حواله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومليک

دوکړيو، ځايونو، نسلونو، کتابونو او نورو نومونه

پهٔ دې نومليک کښې د ځايونو نومونو ته دستوري * ښکښه شوې، کتاب ته «ک»، نسلونو ته «ن»، علمي او نشراتي مرکز ته «م» او نورو ته واضح توري کښل شوي دي.

آزاد خان : ٦١
آيسه، بي بي : ٦٣، ٨٢، ٨٣
احمد (پاک) : ٢٨
احمد شاه : ٧٨
ادارهٔ اشاعت سرحد : (م) ٦
د ادبياتو پوهنځی : (م) ٢٣
ادبي ستوري (ک) : ٧٩، ٨٩، ٩٠
اردو (ژبه) : ٧٠، ٧٤، ٧٧
اسدالله خان : ٣، ٤، ٩، ١٠، ١٣، ١٤، ٢١، ٦٤، ٦٥، ٧٨، ٨٣، ٨٤، ٨٦، ٨٧.
اسلام خان (خانصاحب) : ٥١
اسلامیه کالج کتابتون (م) : ٥١، ٥٢، ٧٨، ٩٦
اشرف خان : ب، ١، ٣، ٩، ١١، ١٥، ١٦، ١٨، ٥٤، ٥٥، ٥٦، ٦٢، ٦٧، ٧٤، ٧٧، ٨٠، ٨١، ٨٤، ٨٩
افريدي (ن) ٥٩
*افضل آباد (باغ) : ١٣، ٢٩، ٥٣، ٦٦، ٨٠
افضل خان خټک : ب، ١، ٣، ٧ تر ٢٣، ٥٣ تر ٥٥، ٥٧، ٦٢، ٦٣، ٦٧ تر ٦٩، ٧٤، ٧٥، ٧٧، ٨٠ تر ٨٦، ٨٩، ٩٠
افغان (ن) : ٢٦، ٢٧، ٨٠
* افغانستان : ١، ٢
افغاني (ن) : ١، ١٢، ١٨، ٢٣، ٢٦، ٢٧
اکوړه خان (ملک) : ٧٥، ٧٧
* اکوړی : ٤٤
الله داد خان خوښکي : ٥٦
الله نور : ٨، ١٢، ١٣، ١٨، ٢٠، ٢١، ٤٩
امیر خان : ٥٥، ٥٦، ٦١
انوار الحق (ډاکټر) : ٢، ٤٥، ٤٦
اورنګ زيب : ٧٧، ٨١
* ايران : ٧٢
* باجوړ : ٣٨
بادشاه (اورنګ زيب) : ٥٥، ٥٦، ٥٨، ٥٩
بادي : ٥٧
* بدخشان : ٢٧
برېتش موزيم (م) : ٤٩
* بريلي : ٣١
* بګرامي : ٦١
* بنګاله : ٣١
بهادر خان : ٦٩، ٨١، ٨٢
بهادر شاه : ٧٧
بهرام : ٩، ١٥، ٥٥ تر ٦٢، ٧٧، ٨١

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو عبدالرؤف: ۲، ۶، ۴۵، ۴۶
پردل خان ختک: ۷۹
پښاور: وګ: پېښور
پښتانهٔ (ن): ۳، ۴، ۱۵، ۲۲، ۲۵، ۳۱، ۶۸، ۷۱، ۷۲
پښتانهٔ شعراء (ک): ۲، ۵
پښتنو: وګ: پښتانهٔ.
پښتو (ژبه): الف، ب، ج، ۲، ۳، ۱۹، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۷۱، ۷۲، ۷۴، ۸۷
د پښتو ادب تاریخ (ک): ۲، ۶
پښتو اکېډیمي (م): ۶، ۷۹، ۸۹
پښتو ټولنه (م): ۵، ۶، ۷۸
د پښتو د پیاوړتیا او پرمختیا آمریت (م): ۵
پښتو ګرامر (ک): ۱
پښتون: وګ: پښتانهٔ.
پښتونخوا: ۴۹، ۷۰، ۷۲
پښتو نسخې د پښتونخوا او دنیا پهٔ کتابتونونو کښې (ک): ۷۸
* پېښور: د، ۲، ۵، ۶، ۲۳، ۵۱، ۵۶، ۵۷، ۶۱، ۶۲، ۷۹
پلاوړن: ۱، ۱۵، ۱۸، ۱۹
تاریخ ادبیات سرحد (ک): ۲، ۶
تاریخ مرصع (ک): ج، ۲، ۵ تر ۸، ۱۰ تر ۱۲، ۱۵ تر ۱۷، ۲۰ تر ۲۳، ۵۳، ۵۴، ۶۳، ۷۵، ۷۸، ۸۲ تر ۸۵، ۸۹، ۹۰
تذکرهٔ انتخاب یادګار (ک): ۲۲، ۷۰، ۸۹، ۹۱
تذکرهٔ تکملة الشعراء (ک): ۷۱
تذکرهٔ کاملان رامپور (ک): ۲۲، ۵۰، ۵۲، ۷۱، ۸۸، ۹۱
ترې بولاق: ۵۸، ۶۰، ۶۵
* تنګاړو: ۹۰
تواریخ مرصع (ک): وګ: تاریخ مرصع
* تورتګی: ۶۸
* تیراه: ۳۰
* تېړی: ۷۸
* جلال آباد: ۶۱
جم (پاچا): ۳۵، ۳۶
* جمرود: ۵۶
* جینا ګړ: ۶۲، ۶۵
(چاپ زی (م): ۲۳
* چلیکا (هُنګل): ۷۲
* څلوزي: ۶۱
حبیبي، علامه عبدالحی: ۲، ۵
* حسن ابدال: ۴، ۱۰، ۶۴
حسن علیخان: ۷۷، ۸۳، ۸۴
حنفي (مذهب): ۲۵، ۸۷
حیات افغاني (ک): ۱
حیات خان، ډیټي: ۱، ۱۹
خالد خان: ۶۹
خان (اشرف خان): ۵۷
خان (خوشحال خان): ۲۴ تر ۲۷، ۵۷ تر ۵۹، ۸۰.
خان جنت مکان او جنت نښان (اشرف خان): ۵۴ تر ۵۸ تر ۶۰
خانزاده (شېدا): ۴۱، ۷۰، ۸۰
خانصاحب (اشرف خان) ۶۹، ۸۱
خان عالیشان (شېدا): ۷۱، ۷۲
خان علیین مکان (خوشال خان ختک): ۵۴، ۵۵، ۵۷، تر ۶۰، ۶۲
خان مرحوم (محمد افضل خان): ۷۶، ۷۷
ختک (ن): ۱۳، ۱۶ تر ۱۸، ۲۵، ۴۴، ۷۰، ۷۱، ۷۴، ۷۶، ۸۰، ۸۱
خواجه محمد خان: ۷۶
خورشید جهان (ک): ۱، ۹، ۱۰
خوشال خان ختک: ب، ج، ۱ تر ۴، ۹، ۱۱، ۱۶ تر ۱۸، ۲۵، ۲۷، ۵۴، ۵۵، ۷۴، ۷۷، ۸۰، ۸۱
خوشال خان (د افضل خان لمسی): ۱۰
* خیبرآباد: ۶۰، ۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

* دکن : ۶۹
دیوان (د خوشال خان) (ک) : ۲۵
دیوان د سکندر خان (ک) : ۷۸، ۷۹
دیوان (د کاظم خان) ۵، ۷، ۱۱، ۱۲، ۱۶، ۱۷، ۲۵، ۲۹، تر ۳۰، ۳۴، ۴۲، ۴۴، ۴۵، ۴۸، ۴۹ تر ۵۲، ۷۲، ۷۳، ۸۵ تر ۸۷، ۸۹ تر ۹۱
دیوان کاظم خان شیدا (د همدمش) (ک) : ۲، ۶
دیوان کاظم خان شیدا (د ډاکټر انوار الحق) : ۲، ۶
راجه رام سنګه : ۵۶
راجه نول رای : ۷۲
* رامپور : ۴، ۵، ۱۴، ۳۱، ۷۱
راورتي : ۱، ۱۲، ۱۷ تر ۱۹، ۲۳، ۴۹
رای مان سنګه دیوان : ۶۱
رحمت خان، حافظ : ۵۲
رشاد، پوهاند عبدالشکور : ۴، ۵، ۶
رښتین، پوهاند صدیق الله : ۲، ۶، ۱۱، ۱۵ تر ۱۷، ۱۹ تر ۲۱، ۲۳، ۴۸
رضا همداني : ۲، ۶
رفیع، حبیب الله : د
* روه : ۲۶، ۲۹، ۳۱، ۳۲، ۳۹ تر ۴۲
روهي ادب (ک) : ۳، ۶
دریاست سوات کتب خانه (م) : ۵۰، ۷۲
زنځیری (لیک دود) : ۴۶

* سرای : ۵، ۱۳، ۱۴، ۱۷، ۱۸، ۲۷ تر ۳۱، ۴۴، ۵۳، ۵۶، ۵۷، ۶۴، ۶۵، ۷۷، ۸۰
سردار خان : ۷۴
سرفراز خان : ۴۸
سرور خان : ۷۴
* سرور مېله : ۵۳، ۵۸
* سرهند شریف : ۴، ۵
سعادت خان : ۷۴
سعدالله خان : ۷۷، ۷۸، ۸۳ تر ۸۵
سعید خان : ۱۴، ۲۱، ۶۴، ۶۵، ۸۴
سکندر خان ختک : ۶۶، ۶۷، ۷۸، ۸۱، ۸۴، ۸۹، ۹۰
سلیم : ۷۲
سلیمان : ۳۶
* سمه : ۳۸
* سوات : ۳۸
سید پهولا : ۵۶
سید علي محمد خان نواب : ۷۱، ۷۲
سیف الله : ۱۳، ۲، ۶۳، ۶۴، ۸۲، ۸۴
سیف خان : وګ : سیف الله
* شاله مار : ۶۷
* شاهجهان آباد : ۵۰، ۵۱
شاهداد خان : ۷۴
* شکی : ۵۴
شوق حافظ احمد علي : ۷۱
شوکت بخارایي : ۷۲
شهامت خان : ۵۶
شهباز خان (د خوشال بابا کونډی) : ۷۴
شهباز خان (د محبت پلار) : ۶۴
شهید خان (سعدالله خان) : ۷۷
* شیخ جیو (زیارت) ۵۸
شیدا، کاظم خان : الف، ب، ج، ا تر ۳۹، ۴۱، ۴۲، ۴۴ تر ۴۶، ۴۸ تر ۵۴، ۷۰ تر ۷۴، ۷۷، ۷۸، ۸۰، ۸۳، ۸۵ تر ۹۰
* شیدو : ۶۵
شیرعلیخان : ۷۴ تر ۷۶، ۸۵، ۸۹، ۹۰
شیرمحمد خان کنډه پور : ۱، ۹، ۱۹
* بنادي پور : ۵۴
د بنوونې او روزنې وزارت (م) : ۶
صائب تبریزي : ۷۲
* صوبه سرحد : ۲
صیف خان (هم وګ : سیف الله) : ۶۹، ۸۱، ۸۲
طائر، پروفیسر محمد نواز : ۳، ۶
ظفر خان : ۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

عابد خان (د خوشال خان زوی): ۵۸
عابد خان (د شهید اوسور): ۸، ۲۲، ۱۳،
۱۸ تر ۲۰، ۴۲، ۴۳، ۵۸، ۸۵
عبید خان: ۷۷، ۸۴، ۸۵
عثمان، ملا: ۵۷، ۵۸
* غالي د هر: ۵۶
غلام معصوم (پیر): ۵
غني کشمیری: ۷۲
فارسي (ژبه): ۷۱، ۷۲، ۷۴، ۸۸
فارغ بخاري: ۲، ۶
فتح الله: ۸، ۱۲، ۱۳، ۱۸، ۲۰، ۲۱، ۴۹
فرهنګ زبان و ادبیات پشتو (ک): ۲، ۶
فقیر جمیل بیګ: ۶۳، ۸۲، ۸۳، ۹۰
فیض الله خان، نواب: ۴، ۷۱
فیض علي: ۵۰، ۷۳
قاسم بیګ: ۵۰، ۷۳
* کابل: ۲، ۵، ۶، ۲۳، ۵۵، ۶۱، ۶۷،
۷۸، ۷۹
کابل پوهنتون (م): ۱۱، ۲۳
کابلی شاعر: ۷۳، ۸۸
کادی: ۵۷
کاظم (د سرای یوبد شاعر): ۴۴
د کاظم شهید دیوان (د بهنوا) (ک): ۲، ۶، ۷۸
کاکاخیل، میا تقویم الحق: ۱۴
کامل، استاد دوست محمد خان مومند:
ج، ۲، ۳، ۵، ۷، ۹ تر ۱۵، ۱۹، ۲۲ تر
۲۴، ۴۸، ۵۱، ۷۸، ۷۹، ۸۸،
۸۹، ۹۱
* کتهیر: ۳۰، ۳۱
د کراچۍ ملي موزیم (م): ۵۱
* کرپه: ۶۱
* کشمیر: ۴، ۶۷
کلید افغاني (انګلیسي ژباړه (ک):
۱، ۱۸، ۱۹
* کمایون (غر): ۷۲
* کنعان: ۳۲، ۸۰
* کوز تاکال: د
ګلشن روه (ک): ۵، ۶
* ګوالیار (قلا): ۵۹، ۶۰
ګوهر: ۶۹
* لاچي: ۱۳، ۵۸، ۶۳ تر ۶۵،
۸۲، ۸۴
* لشوړ: ۵۹، ۶۰
لښکر خان: ۷۷، ۸۷
* لښکر کوټ: ۵۶
لوی خان (د خوشال خان): ۵۸، ۵۹
مجمع الانساب (ک): ۷۴ تر ۷۶، ۷۸،
۷۹، ۸۲ تر ۸۶، ۸۹ تر ۹۱
محبت خان: ۶۴، ۸۲
محمد ار باب، ملک: ۶۱
محمد اشرف (د افضل خان زوی):
۱۳، ۲۱، ۶۴، ۶۵، ۷۷، ۸۲ تر ۸۴
محمد افضل خان: ۷۵ تر ۷۸ هم وګ:
افضل خان ختک.
محمد حسن: ۱۳، ۲۱، ۶۳ تر ۶۵، ۸۳،
۸۴
محمد سعید خان: ۶۳، ۶۴، ۷۷، ۸۲،
۸۴ هم وګ: سعید خان
محمد عابد: وګ: عابد خان.
محمد علي خان: ۱۰، ۱۳، ۲۱، ۶۳ تر ۶۵،
۷۷، ۷۸، ۸۲ تر ۸۴
محمد عماد خان: ۷۷، ۸۴، ۸۵
محمد فیض الله خان، نواب: ۸۸ هم وګ:
فیض الله خان.
محمدي صاحبزاده: ۵، ۴۲، ۸۵
مرهټه (ن): ۱۰
مغل (ن): ۵۸، ۶۲، ۶۸، ۸۱
ممریز خان: ۶۱
میا عمر: ۵۲
میا غلام حیدر (اخونزاده): ۵۰، ۷۳
میا محمد: ۴۹
میا محمد عمر: ۴۲ هم وګ: میا عمر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میامحمدي : ۴۲ هم وګ : محمدي صاحبزاده .
میرمینایي : ۷۰
میکنزي : ۴۹
نادرشاه : ۷۱، ۷۲، ۷۸
ناصرسرهندي : ۷۲
نامدار : ۵۳، ۶۵
نبي آخر زمان : ۷۶
نسب نامه (ک) وګ : مجمع الانساب .
* نظام پور : ۵۴، ۵۸، ۶۰، ۶۲، ۶۴
نقشبندیه (طریقه) : ۵، ۲۵، ۸۷
* نوښهر : ۵۳
نیکبخته، بي بي : ۶۳، ۸۲
* نیلاب (غاښی) : ۵۵
وړمه (مجله) : ۱۱، ۲۳
* ولي : ۲۹، ۵۳
هجري، اشرف خان : ۱، ۳، ۱۶، ۸۰، ۸۱، ۸۹ هم وګ، اشرف خان .
همېشخلیل : ۲، ۶، ۴۵، ۴۶، ۵۱، ۵۲
* هند : ۲۸، ۲۹ تر ۳۱، ۳۹، ۴۰، ۴۲، ۸۷
* هندوبار : ۳۱
* هندوستان : ۳۰، ۳۲، ۷۱، ۷۲، ۸۱
هندي (ن) : ۴، ۲۲
هېوادمل، زلمی : ۲، ۶
هیوز : ۱۲، ۱۷، ۱۸
۱۶۳۰ (ک) : ۲۲، ۲۳، ۷۹، ۸۹، ۹۱
یوسف : ۳۲
یونیورسټي بک ایجنسي (م) : ۵، ۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

ANIC
B
1.237
RAF
5561

امان
دامان کتاب له خپرونو څخه
پیښور

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library